


ژوړ اندونه
دويمه شعري ټولګه
محمود (حميدزی)
Ketabton.com
ګلوته خندا مې پرخوله نه راځي
دښتو دفراق ته توپان وړی یم
زړه مې ددلبر په مينه مست شان ته
هسک ته مې اندو دجانان وړی یم
ستورو سره رڼا مې وجود وغواړي
تورو ماښامونو ته خان وړی یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**1 Figure**

**دکتاب پیژندپانه**
**نوم :ژوراندونه**
**لیکوال: محمود حمیدزی**
**دخپریدو بڼه: آنلاین**
**ټایپ او ډزین: محمودحمیدزی**
**یادونه: ددې کتاب دچاپ حقوق دلیکوال سره خوندې دي**
**دوسمه یادونه:هیڅوک حق نه لري چي یاد شعرونه دموسقۍ سره زمزمه کړې.**
*************************************************

**دلیکوال نورخپارسوي کتابون.**
**۱په سمندرکي دملغلرولټون:ویښونکي اوفکرجوړوونکي مقالي**
**۲دالماسوپنډ:دپښتو متلونو دویلو ځایونه او علتونه یې**
**۳روڼ سیند لومړۍ شعري ټولګه**
**۴په کایناتو کي دقرآنکریم علمي معجزې:ژباړه**
**همدا کتاب**
**داړیکونیولوپتې:فېسبوک:محمودحمیدزی،وټساپ ۰۷۰۴۰۵۶۱۰۹**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حمد شريف

ثناء ستاينه دې وي تاته مــــولا
ماته دي ډېــرې خوشحالۍ راکړي

دروغ وجـــود يمه خاوند خالقه
هــر لـــهــزه کي دي ښادۍ راکړي

سجده کواى سم بيله عذره خدايه
دهـــريــــو لـــوري دي ډالۍ راکړي

زما عاجـــز ښـخـه راضي سى ربه
ما تــه خـــوښـــۍ دي دنړۍ راکړي

دپوهې ورکړه خوداستا په لاس ده
په کــتــابــونـــو دې هستۍ راکړي

شـکـر ګذرا يم حميدزى په هر حال
که دي جـــونـــګړه يا ماڼۍ راکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ژور | اندونه |

ســتــا ثنا وایـــم خــالـقـه
رون ليدونـکی دجـــهـان یم

دکوچنې وجــود په فـــکــر
هم آنــدوړی دآســمــان یـم

لوړي کنــدي واړه ګــــورم
ژورلــــيـدبــانــدروان یــــم

دګـــنــــاه ځــــخـــــه ډارېږم
بـــيـریدونـکـی دتاوان یــــم

دخپل کړوبخښنه غــــــواړم
که دبـــــد کـــړو تـــوپان یم

مینه زړه کې مې کـړي زیاته
زه میـن په خـپـل جانان یـم

عـبـــادت مې ته قبول کـړي
زه غـریـــب یمه ناتوان یـم

نــیــک وګړي راته ګـران دي
دپـــښـتون قام دکاروان یم

ربه مــــاتـــه عـــلـــم راکړي
داسي علم چې لوی کان یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما هــيـــواد ګل ګلزارکړي
زه دګـــران افغانستان يـــم

حـــــميـــدزی عاجز بنده يم
په سراوښکولوندګريوان يم

خپل ځان
ستـا دستايلو سه منکر ځنګه سي
دخـپـل وجود څخه بهر ځنګه سي

دستـرګـو منځ کي درازو کمی دی
پېښمان دهـرڅه سه بشر ځنګه سي

ړانـده وګړي دي سپوږمۍ نه ويني
رڼا کي ورک خـلـګ دلـمـرځنګه سي

هـره زره ستـــا صـفـتـونـه کوي
دعقل شتون کي بي خبر ځنګه سي

درتـولـو غـوره ستا وينا چي لولي
دها وګـړي څوک لاستر ځنګه سي

که نيغه لار بانـدي مزل وکړي څـوک
هـغه خپـه به پـه محشر ځنګه سي

حـمـيـدزی بـدو څخه کـرکـه کوم
بدو کي هسک دسړي سر ځنګه سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې يې خوږې دي

دستورو ځلا هيڅ ده دجانان ښکلامې هومره
سپوږمۍ يې په ليدلو پـرمابينځ باندي ماتيږي

خبرې يې خــــوږي دي انسان کله په مـــړيږي
دهـــريـــؤه کلام ښخه خــــوږه يې را اوريږي

نړۍ باندي ښايسته ده ونې هم ورته سلام کړي
سپين لمريې احــتــرم کړي په وريځوکي پټيږي

پيريانو ته مـحبـوب دئ انسان ولې نه پوهيږي
انــســـانـــه ســتــا لپاره کله لويه ورځ لنډيږي

قربان مې تول ژوندون سه دجانان تر قــدمو نو
په ښـــار داوسيدو يې انـــورونـــه پاشل کيږي

سلام دحميدزي په ډېر درنښت باندي قبـول کړه
زما روح ســتــا ديادونـــو په چينه باندي اوبيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

رنـــګــونــه قاتلان ســـول دګلونو ښاريې وران کړ
بلبل لـــيـــونـی ســـوی دتالــونـــو ښاريې وران کړ

انـــســـان فقيرنـشـــه دئ دخپل ژوند خوندونه اخلې
تېز وخت دئ ياغي سوی دعمرونو ښاريې وران کړ

قـــلـــم يې دئ پلورلی کاتـــب تـــــوره کړله ښکلي
دمـــيـنـــې عاليم بدسو دعشقونو ښاريې وران کړ

خـــوشـــبـــويې پـــر دماغـــــو دلونګو نه لګيږي
ماليار عـــقـــل بايللی دعـــطرونو ښاريې وران کړ

دځان ســـــره په جنګ دئ حميدزی ځومره بدسوی
بايللی يې خپل هوښ دئ دخيالونو ښاريې وران کړ
*****************

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انتظار

سـتـرګې ستا لیدلو ته تلوار کوي
وخت راباندي څومره انتظارکوي

درومم ستا په لاره ښایسته یاره
چل مې قـدمــونــه داغیار کوي

راوړه تــخــیــوله دجانان یاد مي
زړه مي دبــریاو یـــؤ دیدارکوي

زه یې په یاري باندي سرلوړی یم
زړمې دیار یاد باندي قـــرار کوي

مینه یې رښا شېندي دلمر په شـان
عـقـل یې ښـکـلا باندي اقرارکوي

زارکړه حمیدزی دخپل دلبره څخه
تـګ مظلوم انسان په نیغه لارکوي
20/8/1398
•

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښکلی جانان

کــه ګــلـــونــه وړاه ښکلي ته دټـــولـو نه يې ښکلی
دا نـــــړۍ په تا روښـــانـــه ځـــکـــه ټـولـو يې منلی

تا تـــيـــارې کـړلې روښانه په هـــســک لمر يې منوره
تـــه دواړو رهـــنـــمـــا يــې پـــه نـــــړۍ ځـلـيـدلی

ســـتـــا ديـــؤليد وپــه هـيـلـه ډوب آندونوسمندرکې
مـــيـــنـــه ستا ســـره کـومـه ته يې څومره نازولی

ستوري ډېر دي په آسمان کي خوځلا کي يې توپير دئ
ســـتـــا خو شبوده څـومره ډېره ته ګلاب يې غوړيدلی

که مې هـيـلـــه ده نـــودا ده ستا پرلارتلل تل غـــواړم
حـــمـــيـــدزی به هله ښاد سي که وې ستا پر لار تللی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لونګ

دژونـــــد دکــړاونـــو ســــــره جنګ ښه راته ښکاري
خيالونه چي مــي ښــکلـــي وي لـونـګ ښه راته ښکاري

بـــــريـــا ته په ورتتلو کي ګـــړنـــګ به هتمن راسي
هـــــمـــــت چي پياوړی وي هــررنګ ښه راته ښکاري

دخــــواســــت دمــلــغـلـرو سه ګټلي سکاره ښه دي
دنـــفـــس په ښـــه کـــوټلو کي اونګ ښه راته ښکاري

پـــيـــغـــور چي دقـــلـــم دجـــوړولـــو راته راکړي
مات مات قلم مي خوښ دی داسي ړنګ ښه راته ښکاري

په ظـــلـــم چي مانـــی دملغلرو زه پـــيـــداکړم
خاورين کورمي خپل خوښ دئ چت يې زنګ ښه راته ښکاري

دزړه ســـره خــــبــــري حميدزيه نيغې ښه وي
خپه چــي راســه نور وي زړه مي تنګ ښه راته ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صدقه مې درته ځان سه

ستا دنـــوم په اوريـدو زړه په ژړاسي
زما روح دې ســتـــا په لاره کي فنا سي

هيڅ وګړی ستا سه هسک نه دي دلبره
ستـــا خبروته مرغان هم په غوغا سي

هـرپـاک زړه درتـه سلام کوي ښاغليه
په خــبـــرو مــعــطـــره دي هو اسي

صـــدقه درنه قـــربـــان ښکلي جانانه
هـــره تـــيـــږه دي په مابانـدي ګوا سي

کـــه بــريا غـــوارم ستا لاره دبرياده
تـــوره شپه ستا په يادوباندي رڼا سي

حــمـــيدزی درود سلام درباندي وايم
زما ژونــد دي ستا پـــه لارکي فدا سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زماسردار

ســتـــا دستر‌ګـــو دښـکــلا په ننده یم
یاره زه دې پـــه لــیـدو باندې نشه یم

صــدقه مې درسه داخاوري وجود سه
کــه پــه تایـمـــه مېین هله زه ښه یم

ســـتـــاخــبـرې څومره ښکلي دي دلبره
ســتـــا په زیرو باندې زه پوره ډاډه یم

دګــــلـــونـــو څـــخــه ښـکـلـي نازولیه
هـــرګــــړی دې په یــادونــــو کې غوټه

ستا فراق زغمل درټول ستونزمن کاردئ
ســتــا سه لیري که سوم زه به لولپه یم

اې جـــانـــانـــه ما دځــانـــه ســـره بوزه
ستا نه شتون کې به داوراېره ایره یم

ســلامـــونـــه مې قبول کړه زما سرداره
حــمــیـدزی درخړو خاورو غوره نه یم
25/5/1399

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خیال

والـــوزم آسـمـان ته الـــوتـل پیل کړم
ځان ګورم دهسک خواته ختل پیل کړم

دانـــړی بـــد رنـــګـه راتــه نه ښکاري
ولې دخـــپـــل زړه غریب وژل پیل کړم

مـینـه دلـتــه هـر خـوا رڼا ګانـي کـړي
ځان سره مې بدکړم چې خندل پیل کړم

وګـــــوره دغــــرونـــو داعــاجـز وجود
زه ولې غـــرور ته نــڅـیـدل پیل کـړم

مـــرګ مې درســـرو وینو رانږدي دی تل
اخ بـــــد یم ګناه ته چې ورتلل پیل کړم

داخــــبـــــره ځان تــه ولې نـــه کــوم
کـلـــه به دراز ســـمــتــه مزل پیل کړم

ربــه ته مـــې مینه زړه کې میشته کړي
هسې چې دزړه مـې رغـیــدل پیل کړم

مینه سوځیدوونکي مې په خــواکي ده
یاد چې دښکلا کړم سوځیدل پیل کــړم

وغـــوړم دعا وو کې ګل رنـــګ جانان
خورا حمیدزی یاد کې یې ژړل پیل کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جانان ته

ســتــا دمــخ دوړانـګـو زور دئ
چي مې زړه کي هر وخت شوردئ

درنـــه زارمې ســـه ټول عمـــر
جـــنـــتـــونـــو کي دي کـــور دئ

ســتـــا ويـــنــاوي ټـــولې ښکلي
پــــر نـــړی دي علم خــــور دئ

څــــوک چي تا بانــــدي مين وي
دهـــغـــه زړګی ټـــــکـــــوردئ

حـــمـــيــدزی درته سلام کـړم
زما نـــظـــر تل ستا پـــه لـور دئ
1400ه ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مناجات

ربــه مــيـنــې ډک جــهـــان راکـــړه
مـــوږ ته عــذاب څخه امـــان راکړه

افغانستان دجــنـــګــه خــلاص کړه نور
ويــنـــو ســه پــاک يې هــر مکان راکړه

نــور دجــنــګ جــګــړو څخه بيزاره يو
غــمــه څخه خــلاص افغانستان راکړه

نور دهردجنګ لمبوکي اوسيدل ګران دي
ژونـــد تـــه درنـــګـونو مـوباران راکړه

مات کــړي ها ټـوپــک چي پښتان وژني
مـــوږ هــريــو وګـړي عــرفـان راکــړه

تل چي موغمګين زړونه خوشحاله وي
تــګ پــرنــيـغـــه لاره دجــانـان راکــړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دهیوادغم

دخوب کول کول کله ارام راکوي
غـم دهـیـواد راتــه الهام راکـوي

دیــتــمــانــو اسـویلي اورمــه
داژوندون سترٍی دی افهام راکوي

ویــنــه زموږ ورته ارزښته نه لري
غـلـیـم وژنه دسـتـرقـام راکوي

دهــره ځایـه خــنــدا لیري تللي
سلګی ژړاوي هــر ماښام راکـوي

د ورورو ژلــو څــومــره غته ډالیَ
دشــهــیــدګل جسد انعام راکوي

راځـه چي عـلـم حمیدزیه وکړو
د ژونــدکولــو تــه دوام راکــوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړۍ

دانـــړۍ ښـــومـره ښایسته ده!
هـــره خـــوایې رنـګینـه ده!

مـــوږ په ژونـــد کله پـــوهیږو؟
په مـــوږ څـکـه تـــوره شپه ده!

علـم نــه کـــوو بـــد کـانــدو،
څـــکـــه دلـــتــه لا جــګړه ده

دخــپــــلـــوۍ ښـخــه منــکریو
زمـــــــوږ ســــه تـلـلـي کافله ده

زمـــوږ وجـــود کې رحـم نسته
قـتـل کــــړي مـــو ډیـــوه ده

دنــیـکـونـــو نـومـو نوم بدکړ
اخ تـــیـــاره مــــومیـلمنـه ده

قـلـمـونـه مـــــوبــــد اېسي
خــــوښـــه کړي مو وسله ده

دبـــــریا وو ښـخـــه تـښـتـــو
لـــویـــه مـاتې زمـــوږ ملـه ده

بـس دی ژونـدبه نورشروع کړو
دانــــــړۍ واړه ښـایـستـه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـتـابـــونــه بــه راوخــلــو
دکــتـــاب مـــــخ آیــنـــه ده

عــلــم پـــوهــه به کړو غوره
بـــې عــلــمــي پـه اورپـخــه

پـه یــوالــي کـي مـــوګـتـه،
حـــمــــیـــدزیـه زرغـونـــه ده!

---

جانان ته
ســــتــــا دکـــتـــلـــو انتظار کومه
کــــرکــــه یـــوازي داغیار کـومه

جانانه تــه راته درهـــرچا تــیـريي
ځـــکــه دډېـــرو زړونو ښکار کومه

ستا دښکلا ښخه مي رنګ اخیستی
دهـــرې کـــړني دي اظهار کـــومه

تل دي یـــادونـه أوره ومه په ځان
که مـي وس وسي دغه چار کومه

ستا دخــبـــرو ښخـه خوند اخلمه
ســتـــا یادونه په هــــر ښار کومه

ستـا دجامونو نوش ته تږي خلک
حــمــیــدزی هم ورته تلوار کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جانان ته

ستا دښايست صـفـت کوای کله سم
خيال کي انځـوردي رسمواى کله سم

درته قـــربان مې هــره ساه سهٔکله
يـــؤه شېبه دي هـيــرواى کله سم

جانانه زه دي دديــــدن تــــږى يـم
په ويـښـــه دلته دي ليداى کله ســم

ســـتــــا ديادونـــو سلسلې پاکي دي
نوم دي دخولې څخه ايستاى کله سم

ســتـــا دخـــبـــرو څخه خـــوند اخلمه
بڼغ دي جانانه اوريـــــداى کله ســـم

حـــمـــيـــدزى تږى يم اوبه دي راکړه
ســـتــــا دجـــام تنده ماتواى کله سم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژونـــد درازونـــو پريمان
هـــــره شيبه يې ارمـــان !

کـــه دې نـيـکئ کـــولې
درخته خوښ وي سبحان!

آسـمـــان ژاړکـړي هاوخت
چي ظلم کـــانـــدي انسان!

بـــريا تـــل نـــه وي واوره!
ډېر دی اوچت شين آسمان!

خـــوبـــونــه لوی وينه خو:
تـــېـــز راروان دی خـــزان!

ګـــلـــونــه خوښ کړه ځکه:
اغـــزي تـــل ډک وي دزيان!

کـــتـــاب دهـــيـلـو وايه:
غـــم دي دانـن خوره دځان!

دونـــيـــا کي ژونـد کله ستة
دعـــقـــبـا ژوند نا پـــايـان!

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکي دمـــخـــه مـه غواړه!:
پاکي دنــفــس تېنګ ايمان!
و

شـــکـــرکـــوه هـــرګړی
ته بـــخـــتـــور دجهان!

حـــمـــيـــدزی لارنه ويني
ځـــکـــه ولاړدئ هـيـران !

*******************************************

رنـــګـــونــه را اوريږي موږ سپرلي ته انتظاريوو
دښــو دېــرو مـودو سه دجانان دښکلي ښاريوو

که بخت مو رابيدار سو بريالي به سو په ژوندکي
غافل نه يـــوو ماليارە دبـــديـو ســه په ډاريوو

تـــخـــمـــونـــه مــو دګلو هر يؤلوري ته کرلي
دښـــو اُمــيـد موډېردئ ستاجامونو ته خماريوو

مــســت مست يو دخيالونو په وزرباندي تاليږو
په ُحــســن يې نشه دښکلو مخته په اقــرار يوو

روان پــه نيغه لاره ستا دپــلــونــو نښې ګورو
و ردرمـــو هغه لورته چي خـــوبونو کي قراريو

راځـــه چي حميدزيه دجانان خـــبـــرې واورو
کــلام يې ملغلري زه اوته په څــيـــر د تار يـوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هيوادمې

ګلونه خـــزان ســوي دسپرلي راتلوته تـم دي
ناشکره يــوو دژونـده دغه شته غمونه کم دي

هيواد ســره خيانت کـړو دپرديو ډول ته نڅو
ښکلا وي خـورا ډېرې زموږ کاته تېوله ناسم دي

اغــزي مــو دي پاللې دريبلو سه يې تـښــتـو
غــوتـېــی مــو ژړولي دمیینو زړونه خـــم دي

مات کـــړی مــوقلم دئ کتابــونه مــو هـيـرکـړي
يا زمـــوږ ماغزه پـردي دي يا دوچو وښو پم دي

راځی چي دنيکيو لاره غوره کړو چي هسک سو
هغه وخـــت حـــمــيدزيه جهانونه دواړه سم دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خيالونه مې مسـت سـوي ددلبر خـبـرې اوري
ياغې دي د وجـــود سه دپـــرهــر خبرې اوري

خوبونه مې دژوند سره ملګري هيڅ وخت نه وه
الوتې دي پاس هسک ته ، دسپين لمر خبرې اوري
*************************************

يـــادونـــه دي را اوري زړه مـــي نه لري سکون
په ژوند کي يم يوازي خورا ګران دئ ستابيلتون

*جانانه يـــونـــظــر دي په ما خـــوار ولوروه
تل درو مــم ستا په لاره دامي ستا ســره تړون

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ورځــو ســـــه خفه يم
هـــــره خوا بدرنګه ايسي

غـــمـــــونه راوريـــــږي
دژوند رنګ نه راته بريښي

جانان زمـــــا ســـــه ليري
فـــراق وينې راسه څبيښي

ستـــانـــــوم چي يادومـــه
دزړه غوښې مې را وريشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نړۍ

دښـــکـــلا ډکــــه ده بلها دا نــــــــړۍ
هـــر سـمـت يي خوند لري جدا دنړۍ

که دي زړه وغـوښتل خوندونه واخله
ډېره ښــــــکـــــلا لري رښــتـيـــا دا نړۍ

دخـپـل ژوندون هره شېبه دي شماره
واوره بــــيخــــي ده بي وفا دا نــــړۍ

دبـــــدو لـــــيــــره اوســــه ښه کوه تل
که بــــــدې نه غـــــواړي رڼا ده نــــړۍ

بـــــدو کي ژونـد که درته ښه ښکاره سو
هــــر شـــېـــبــــه يې ده ســـزا دنړۍ

دپوهي شتون کي ژوندون غوره دی ډېر
ناپـــــوهـــــو خــــلــــکــــو ته بلا ده نړۍ

که دې خـــوښـــی غوښتي نړيو کي بس:
دخـــالـــق ياد کــــوه بـــــريا ده نــــړۍ

دحــــمــــــيدزي هيواد کي سوځي کتاب؟
ځــــکـــــه مـــــوږ واړيــــوو درشا دنړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



درنا لوري ته درومم
دسترګومې پناه يي خـــو هــر وخت دي يادومه
غــمـونه دي پريمان دي دزړه وينې باندي خورمه

ستا پـــــلـــــونـــه ښکلوم د رنا لوري ته درومم
دلـــــــبــــــــره ستا لپاره پـــــــراغزو سفرکومه

ښايست دي دومره ډير دئ په نړۍ يې بيلګه نسته
په يـــؤ خـــبـــره ستا جانانه ځان اورته سپارمه

ويل دي تـــول خـــوارږه دي دخوږو شاتو نه ګله
ويــــنـــاوو ته دي هـــر وخت د بلې ځواب وايمه

په تنده کي چي زه يم هغه وخت دي يؤجام راکړه
اوبه خـــوار حميدزی کـــړه دکلونو تـــږي يمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دونیا

دونیا څــه ده، یو زنــــدان دئ
تــول بــنــدیا پکښي اوسیږي

که څوک بداوکه څوک ښه کړي
اخـــــر هـــم ســفر پیلیږي

که دوخــــت درناوی وکـــړي
ســـتـــا مـــــزل آسانه کیږي

دلـــتـــه هغه خـلـک ګرم دي
چي خـــبــــردي نه پــوهیږي

د درانـــــده خـــوبه راکښینه
عـــمـــــر ورځ په ورځ کـمیږي

دنـــیــــکـــی لوري ته سیخ سه
بـــــدي هــــر لــــورته نخیږي

بــــریا هـغه وخـت ګټای سي
چـــي جانان درتــــه یادیــــږي

هیلي لــــویي دي خـــبــریي
تـــــولي هیلي نه پـــوره کیږي

راځـــه یـــاد دپاک سبحان کړو
په دي کار انسان هســک کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دتوشيح صنعت

ماځيګر کي ښکلانسته
دژونـــد پــاى دانسانانو

حاجتونه څومره ډېردي
دنـــاشـــــکــــره جهانيانو

مـغروري نـه ښايي چاته
خاورې وخــوړي شاهانو

وزګار دلته انسـان نه دئ
مـــلـــګـــري کړه دنيکانو

درتـــه ورســـه دعاجـزو
ها چي بـــد وړي دبـدانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما هیواد

دمــــرغـــانــــو اوازونــه دې ښایسته دي
زما هــیـــواده ستا سیندونه رنګینه دي

چې پرتا باندي څوک بد وایي جاهل دئ
ستا بچي خو سترخالق ته په سجده دي

خــیـرکه وران او ویجاړکړی یې بدبختو
افغانان دي جـــــوړولـــو تــــه شلـه دي

تـــه مــات نه یې تـه پیاوړی یې هیواده
ســـتـــا دزړه تـــنـــکــي ګلونه لا تازه دي

جـــوړول دي پـــر مـوږ فرض دي میهنه
په سترړیاوو زموږ زلمي اوس اموخته دي

غـلـیـمـــان دي تار او مارسه ګران وطنه
دښــمنـــان دي هرمیدان کي شرمینده دي

لوی هــــیـــواد حمیدزی پـــرتـا میـن دئ
تا چي وران کـړي هغه ستاسه بیګانه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دسترګو صفت کله څوک کوای سي
زما زړه دي ُحـــســـن کله هيرواى سي

ستا ديـــدن خـو دنړئ هره خوښي ده
ستا لپاره خـلـګ اور ته غورځيداى سي
**********************

څلوريزه

خيالونه مـــې مـــســت سوي ددلبر خبرې اوري
ياغې دي د وجـــود ســـه دپـــرهر خبرې اوري

خـوبونه مې دژوند سره ملګري هيڅ وخت نه وه
الوتې دي پاس هسک ته ، دسپين لمر خبرې اوري

دغه شته غمونه کم

ګلونه خـــزان ســـوي دسپرلي راتلوته تم دي
نـاشــکـره يوو دژونده دغه شته غمونه کم دي

هـيـواد سره خيانت کړو دپرديو ډول ته نڅو
ښـکـلا وي خورا ډېرې زموږ کاته ټوله ناسم دي

اغـــزي مـو دي پاللې دريبلو سـه يې تښتو
غـــوټـــۍ مـــو ژړولي دميينو زړونه خم دي

مات کـــړى مـــوقلـم دئ کتابونه مـو هيرکړي
يا زمـــوږ ماغزه پردي دي يا د وچو وښو پم دي

راځئ چي دنيکيو لاره غوره کړو چي هسک سو
هغه وخـــت حميدزيه جـهـانونه دواړه سم دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپرلی

رنــګونه را اوریــږي مــوږ سپرلي ته انتظار یوو
دښـــو ډېـــرو مودو سه دجانان دښکلي ښاریوو

که بخت مو رابیدار سو بریالي به سو په ژوندکي
غافل نـــه یـــوو مالیاره دبـــدیـو سه په ډاریوو

تـــخـــمـــونه مـــو دګلو هـــریؤ لوري ته کرلي
دښـــو اُمـیـد مو ډېردئ ستاجامونو ته خماریوو

مـــســـت مـــست یو دخیالونو په وزرباندي ټالیږو
په ُحـــســـن یې نشه دښکلو مختته په اقـــرار یوو

روان پـــه نـــیـــغـــه لاره ستا دپلونو نښې ګورو
ور درمـــــو هغه لـــورته چي خوبونو کي قراریوو

راځـــه چي حمیدزیه دجانان خـــــبـــــرې واورو
کـــلام یې ملغلري زه اوته په خـــیـــر د تار یوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ســــتـــا دمـــخ دوړانګو زور دئ
چي مې زړه کي هروخت شور دئ

درنــــــه زارمې ســــه تــول عمر
جــــنـــتــــونو کي دي کور دئ

ستا ویـــنـــاوي تــولې ښکلي
پــــر نــــړۍ دي علم خــــور دئ

څــــوک چي تا باندي مــئـین وي
دهـــــغــــه زړګـــی تــکـور دئ

حــــمـــیــــدزی درته ســــلام کړم
زما نـــظــــر تل ســتـــا په لور دئ
1400ه ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما دســـترګــو تــور دئ
دهـــــر زړګــی ټـکــور دئ

زمــا جــانــان داســـي دئ
دهـــــرانـسـان غمخور دئ

هــــــره ويــنـــا يې بــريا
بــانـــدي رنګين هرکور دئ

درتــــولـــــو ښـکـلـی هغه
پري ټول جهان سمسور دئ
*************************************

ځلوريزه

دزړه رازونـــــه دي خـــونــدي وساته
دپروته ستا احساس ارزښت نه لري

ژبه دي ګــونـګـه کـړه پر بدو ويوو
بـــدي خـــبــري دي پايښت نه لري
ځلوريزه

ها دســـتـــورو ځـــلا ويـنـئ
عـــجـــبــــه غوندي ښکاريږي

چي انسان پرنفس غالب سي
ښايسته غـــونــدي ښکاريږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پند

تریــنه لیري سه هوښیاره
دبــدانــو دقطــا ره

ها چي ظلم کــړي ناحقه
قبــرتنـګ لري زما یاره

چي نیکیوښه تښتي
زړه یې خوښ نه وي دچاره

څوک چي لمونځ نکړي بد بخت وي
دوږخــو ته وي تیاره

چي دزکات دمال باسي
هغه وي په سمه لاره

چي کتاب نه لولي هغه
تــوله ژوند وي ناقراره

دمظلوم ږغ چي څوک واوري
ها وګــړی وي سالاره

حمیدزي باندي ویل وه
هره شپه لري سهاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلوريزه

مــخ ته دې هنداره ده
نـــيـــكـــه بده چاره ده

غوره كړه نيكي ترينه
لـــويـــه هغه لاره ده

څلوريزه

چي دي علم ته عزت وركړ ته ښاد سـوي
چـي خـبـره دي رښتيا وكــړل آزاد سـوي

تـــري نــه تښتته جهل بــده دئ خــرابـي ده
دكتاب سه: كه سوي ليري ستر فساد سوي

څلورزيزه

ستا په ستركو كي خوښې ده
واوره زمـــا تـــوله هستې ده !
صـــدقـــه مي درتــه ځان سه
دويــــاړ دكـــه ستا دوستې ده !

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جانان ته

دزړو قـــرار جـانـانـه
ښــکـلــی سرادرجانانه
دلـــویــو یــار جانانه
هــمــیــش بهار جانانه
دربـانـــدي درود وایمه
دنــــړۍ هـــار جـانانه

که ستا په لاره ولاړسم
زه ستا درښاره ولاړسم
په لارخـماره ولاړ ســم
ډېــر په تلواره ولاړسم
زه بـــریـالی به ســمـه
درتا ســـم زار جـانـانه

تاتـــه ســلام کـــومـه
درتـــه کـــلام کــومه
په ځان مـــي پام کـومه
زه احــــتـــرام کـومـه
کـــوم اقـــرار جـانـانـه
دنــــړۍ هـــار جـانـانـه

خدایه هیواد موجوړکړي
خدیه بهاند موخوړ کړي
حـمـیـدزی: جار جانانه
ښــکـلــی سرادار جانانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلوريزه

يادونه دي را اوري زړه مي نــه لــري ســکــون
په ژوند کي يم يوازي خورا ګران دئ ستابيلتون

*جانانه يــونــظــر دي په ما خــوار ولــوروه
تل درو مـــم ستا په لاره دامـي ستا سره تړون

ارمان
هــيــران يم آند کوم په دې خبره
وګـــړي بـــد ولې اوڅـــلــه کوي

دســـرو ګـلـونـــو قاتلان ولې سي
دنـــيـــکـــو کـړونو چار به کله کوي

دســـرو لـــمـــبـــو دبلـولـوشوقيان
دهـــيـــواد پلـور به لا څوځله کوي

زمونږ دپاک هيواد سرسخت دوښمننان
دويـــنـــو تـــول پــه خپله تله کوي

بـــد دي زمـــونږ په بربادی خوښيږي
ګـــډيـــږي رقـــص په يـــوه تله کوي

راسئ چي نور د درانه خوبه ويښ سو
دنـــفـــاق ويـــش زمـــونږ په کمبله کوي

په خـــپـــل پـــتـــي کي قلمونه کـرې
حـــمـــيـــدزی داچـــار بيله چله کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملت مو

وګــــوره مــلــت مــو دئ په شا روان
نه ګـــوري نــړی تــه په بل خوا روان

هــــر ورځ په خــپــلــو کي جنګيږو موږ
نـــه ځـــو په يـــؤه لا ر يو  جدا روان

خـــــدايــــه ته موپوهه دومره زياته کړې
جوړ چي خپل هيواد کړو سو ربښتيا روان

ته مـــو په يـــو ټــغــر راغـوند کړي ټول
داسي چي خــوشــحال يو په خندا روان

مــــوږ ته دنـــيـــکــيـــولاره وښـــيـــې
مـــــوږ يــــو لاره ورکي پـه صحرا روان

نـــه لـــرو ښايسته ټـــول بدرنګ سوي يو
ځـــغـــلـــو وتـــيــــارو ته بې رڼـــا روان

تـه دحــمـيـدزي  هيـواد کي جنګ ورکړې
ټــــول يـــو دکــلـــو نـــو په ژړا روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## علم موکم دی

ګـــلابـــونـــه رژوو علم موکم دئ
غوټې اورکي سوځوو علم موکم دئ

درنـاوو څــخـه تـښـتـو وتیاروته
څـــرا غونه مــړکوو علم موکم دئ

دکـتــاب پاڼې مـو وشکولي تـولي
قــلـــمــونه ماتـــوو علم مـوکم دئ

دیـــوبــل څخه نفرت کـوو دوخته
ددوستی پرې شکوو علم مـوکم دئ

ظالمان یـــوو یوتربله زیانکاران یـوو
آبادې رانـــړوو عـــلـــ مــو کـم دئ

راسئ زړونه سره یؤکړو کتاب واخلو
شـــکر نـــور هــرڅه لرو علم مـو کم

حـــمـــیـــدزیـــه دقلم څـوکه پیاوړي
قلم ولې خـــرڅـــوو علم مـوکم دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سکون ومونده

دژونـــده ســتــړی نا قرار ولې یې
ومـــختــه تګ ته په تلوار ولې یې

راســـه دهــرې شیبې برخه ورکړه
دوخت وېشو کي بي اختیارولې یې

حساب دهــرې لـــهـزې هتمن کیږي
ته لا پـــــر لاره داغـــیـــار ولـــې یې

دګل وړمـــو څخه خـونـدونه واخله
دښـــکــلـــو خلګو ســـه بیزار ولې یې

وګوره پاک هسک ته خوندونه واخـله
دســـرو ســـکــروټـو په دیدار ولې یې

دژوندسه مه تښته ژوندون ښکلی دئ
دکـــــــړاونــــــو په شـــمــــارولې یې

دحــــمــــیــــدزي ســــره کـــتـــاب ولؤله
دناپــوهی لـــورتـــــه پــه لار ولې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

دلارې پــه اوړدو كــي ګــړنــګـونه هتمن سته
دزړونــو پــه پــېــرلــوذكي غمونه هتمن سته

قلم دي نــور راواخله دهيواد جوړول پيل كړه
دخــړو غــرو سرونو كي ګلونه هــتــمن سته

كه جنګ كوي په زغرده دغماز ككرۍ پري كړه
ناحــقــه كــه جنـګيـږي عذابونه هتمن سته

د ژونــد ښــخــه دې ګــټـه په هره شـېـبه اخله
دژونـــد هـــره شېبه كي لعلونه هتمن سته

راځه چي دنيكۍ په لاره خپل منزل ته ولاړسو
تــلــوار كــړه حـميـدزيه خطرونه هتمن سته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما وران کوره

مادې جــــوړل غــوښتـل زماوران کوره
ته رانـــــه ويــجــاړل کړلي تو پان کوره

ستاساتنه موږ باند فــرض ســـويـه وه
مــــوږ خپل کـړي وران زما جانان کوره

اې هــــيـــواده زه دې پـــــورو ړی يـــم
زه دې يـــم شـــريک په هر تاوان کوره

وران يې ويجاړسوی يې زما خوږملکه
داړي دي هــــرلـــور ته دي ليوان کوره

تا کي دکـــلـــونــــو ســـه غمونه دي
زغمـو يې ناتوانه يوو زما ګران کوره

ډيــــر دي پـــه نامـــه ستا عشقان دلته
مات يې کـــړل ګلونه ستـا دځان کوره

ومـې بـــخـــښـــه زه درته خيجله يـــم
موږ نـه کړي سمسو زما وران وران کوره

مـــوږ کــه دپردو دلاسه ځان خلاص کړ
هله بـــه ودان ســي ښـــه ودان کـــوره

عـــلـــم اويـــــوالی زمـــا هـــيـــلـــه ده
زما حـــمـــيـــدزي دغــه دی ارمان کوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هیواد مي

ســتــا دســیــنـدونو دښکلا ننداره
لکه دښکلي مـــخ ومـــخـــته اینـه

هــیـــواده تاکي څـــه کمـی دښکلا
هــــره لویشت خاور دې دمیو پیاله

تاکي دکــــروړو زلــمــو هسک اندونه
ستا هــرخـوا ده پـه ګلونو ښایسته

دتــــورو غــرونو دغرورور ډک وجود
په ویـــنــو پـریول له زلموستا سینه

دزرغـــونـــو ښونـــوستا قربان سم
ســتــا دتاریخ هـریو څپرکی دی ښه

موږ دي خدمت په ربښتیا نه دی کړی
زمـــوږ سه ورکه نیغه لار دخپل وره

مـــوږ مـــلامت یؤ ټول په تا هیواده
خپله مــــو ووژل دپــــوهې ډیـوه

حـــمــــیـــدزی ګرم یمه په تا هیواده
زړه کي مــې بله ده داورســـره لمبـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې هیوادښکلا ته ته نه ګوري څـوک
هــــره خـــبـــره يې دجـنـګ دخلکو

په نــه خــبــره بانـــدي شخړې کوي
دلته هيڅ نه ښکاري سپين رنګ دخلکو

ډېـــر دي داورڅخه هم ډېر سوځونکي
ســيـــنـــې لـنـډي زړونـه تنګ دخلکو
***************

کريم سلام الله جل جلاله

ځـانــه سمندرجـــوړکـــړه
عـقـل څخه غـرجـوړکړه

وکـــړه دګـلـونـو کـښت
زروســـه تـغـرجـوړکـــړه

والـوزه دهســک پـه لـور
خيال تــه دې وزرجوړکړه

نـيـغ ولاړســـه پـه حقه لار
خپل مخ څخه لمر جوړکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتت کــړه نــفــرتـونه نور
زړونــــه په هنـرجــوړ کړه

چــــم دې خپله وژغــــوره
کلي ته دې ورجــــوړکــــړه

بــــدیـــوســـه غلیم څخه
تل ورته مـحـشـر جــوړکړه

وران کــړه دبیلتون دیــوال
لوی تري سپین ډګر جوړکړه

مــــه مـــنــــه دروغ دچـــا
نیــک دې خپل بشر جوړکړه

پـــیـــر دکـــتـــابـــونـــو کړه
پـــوهـــې ســـه قمرجوړکړه

وویــــنـــه ښــکــلا هــرلور
ښــکــلــی دې نظر جوړکړه

وستـایه خالق(ج) دې خپل
ځــانــتــه دې کوثرجوړکړه

وایـي حــمــیــدزی ښـکاره
قامـه خـپـل ځیګر جوړکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ددیدن هیله

مـادې دد یـــدن هــیـلــه تل کړي ده
دا هــیـلـــه زړګـي راته ښـــوولـي ده

ستا ســه ښـایستــه په دي نړی نسته
ستـا هــر ویـــنـــا درتـولو ښکلي ده

مـــخ دي دګـــلاب څخه رنګین ښکاري
هـا کــوڅــــه  په تابانـدي سپيڅلي ده

نـــه مـنـم غــمـــازه  ســتـــا خبرې زه
ما دخــپــل جـانـــان ښکلا لوستلي ده

حــســن يې دټــولــو څــخـــه بـره دئ
هــســـک ورته لـــمـنــــه غـوړ ولي ده

وګـــوره سپوږمی په منـځ کي درز لري
دې ښــکـــلـــي دګـل ښـــکـلا لـیدلي ده

وايـــمـــه ســـلام پـه ښايسته جـانـــان
مــا هـــره خـــبـــره يـې مـــنــلـــي ده

اې دحـــمـــیـدزې دتـــخــــیـویـال تاله
تا دخـــپـــل بـــریــــا رســـی نیولې ده؟

18/4/1399

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دجانان ښکلا

ماتــه دي ښــکــلا پــوره ځرگنده ده
یار ســتــا وفا پـــوره ځــرگــنده ده

ځـــوک ســتــا دخبر وسه انکارکوي
هــرچــا ته رڼــا پـــوره ځرگنده ده

تا موږته دیوه غوندي احساس راکړ
ستا خــوا کي بـریا پوره ځرگنده ده

لــیــږي چي سلام پـه نیموشپوتاته
هـــغــه ته رښــتــیــا پوره ځرگندده

هـغــه بـریالی چي ستا خبري کړي
ستاهــره ویـــنـــا پـــوره ځرگنده ده

مـخ دي دگلاب ځخه ډېر ښکلی دی
مـخ کـي دي خلا پــوره ځرگنده ده

زه حمــیدزی ستا ځخه قربان سمه
ســتـــا مــیــنــه دوا پــوره ځرگندده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زموږ هیواد

کــښــت دګــلــو مـــو خـــزان راتبا کړی
زمـــوږ هیواد دخپل وجوده څخه سترړی

دکـــلــونــو څــخـه اور يې زړکي بـل دئ
څـــوبـــې رحـمـــو ځـنـاورور دئ داړلی

غــمـــازن يــې په لــوګـيـو خوشحاليږي
رقـيـــبـانـــو پـــه هـــربـنـد باندي ريبلی

زمـوږ ګـنـاه څه ده ناحــق وژل کـيـږو
زمـــوږ زلـــمـو کــفـن پـه سر باندي تړلی

هـــره خـــو دښايـسـتـه هـيـــواد تباده
غـلـيـمـاون پـه مـــرمـيـودی ویـشـتـلی

که دنــورو څـخـه ښـه غواړو کارنه کړو
زموږ هیواد به بي ساه پروت وي لکه مړی

راسئ نور دخپل هیواد پـه غم غمجن سو
دقـلـم په زور بـې جـوړ کـړو نـړيـدلی

حـــق يې څـنـګـه ور اداکـړم نه پوهيږم
حـــمـــيـدزی دخــپـل هیواد يـم پورورړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژونده یوه موقه

ژونــده یوه موقه دخوشحالی راکړه
یــوه شــیــبــه آرام دبد حالی راکړه

مه مې زوره دخـپـل هـیـواد په غـم
زما وګل هـیـواد تـه نور ښادی راکړه

وبــاســـه دزړو ســه نــفــرتـو زموږ
ربه اتــفـــاق دورور ولــی راکـــړه

سترګې مو دزړه په لیدو ښکلي کړې
یـــو دیـــدن دګــل په زنــدګی راکړه

نـــور مـــو دتــقــوا پـــه لار بــوزي تـه
مـــوږ تـــه لـوی اجرونه دنیکی راکړه

زړه کې مودردونو ته سکون کښیږده
پـــوهـــه عــلــم دوړه تـــه ډالی راکړه

زموږ هیواد دبې په شان ښایست لري
بس دســولې ژونــد اونیکمرغی راکړه

نـــه وو حـــمــیــدزي ســره رنګین غزل
غـــم وه هـــیــرولو ته لـــنـــډی راکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پند

ژونـــدون کي درواو ناروا وو دونـــيا فـــرق دی
دښـــکـــلـــو خـــوښـــولـــو کي جــلا او بلها فرق دی

مـيـيـن په هـــر چا مه ســـه تول وګړي کله ښه دي
دښــو بـــد و کــولـــو کي رښتيا او آشنا فـــرق دی

دګل او د اغـــزي مـنـځ کي دوستي دورايه ښکاري
ګــرانــښــت او په پيرو لو کي دسا او طلا فرق دی

نارې خـــو هــرسړی وهي چي ژوند مي درتا زار دی
رښـــتـيـــا او په درغـــو کي جـــدا او صفافــرق دی

راځه چي ژوند دنيکو دخپل ځانه څخه را پيل کړو
د ژونـــــد په تـــېــرولو کي دشـــاه اوګـــدا فـــرق دی

غـــمـــجـــن خـــوهـــرســـړی دخـپــل آشنا په بيلدو وي
لـــمـــبـــه هـــر زړګی نـــه وي دژړا اوخـــنـــد فرق دی

راګوره حـــمـــيـــدزيه دماشوم په شان خوشحال يم
دنـــورو زړه ازارمـــه کـــړه هـمـــدا زما اوستا فرق دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مناجات

ربه مینې ډک جهان راکړه
موږ ته عذاب څخه امان راکړه

افغانستان دجنګه خلاص کړه نور
وینو سه پاک یې هر مکان راکړه

نور دجنګ جګړو څخه بیزاره یو
غمه څخه خلاص افغانستان راکړه

نور دهردجنګ لمبوکي اوسیدل ګران دي
ژوند ته درنګونو موباران راکړه

مات کړي ها ټوپک چي پښتان وژني
موږ هریو وګړي عرفان راکړه

تل چي موغمګین زړونه خوشحاله وي
تګ پرنیغه لاره دجانان راکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دخوب كول كول كله ارام راكوي
غـم دهـيـواد راتــه الهام راكـوي

ديــتــمــانـــو اســويلي اورمــه
داژوندون ستړی دی افهام راكوي

ويـنـــه زموږ ورته ارزښته نه لري
غـلـيـم وژنه دسـتـرقـام راكوي

دهــره ځايــه خــنــدا ليري تللي
سلګی ژړاوي هــر ماښام راكــوي

د ورورو ژلــو څـومــره غټه ډالئ
دشــهـيـدګل جـسـد انعام راكوي

راځــه چي عـلـم حميدزيه وكړو
د ژونــدكـولـــو تــه دوام راكـــوي
25/2/1399

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دنړۍ ښکلا

دانـــــړۍ څـــومـــره ښایسته ده!
هـــــره خـــوایې رنـګـینـه ده!

مـــوږ په ژونــــد کله پـــوهیږو؟
په مـــوږ ځـکـه تـــوره شپه ده!

علـم نـــه کــــوو بـــد کـانـدو،
ځـــکـــه دلـــتــــه لا جـګـړه ده

دخـــپـــــلـــوی څـخــه منـکریو
زمـــــــوږ ســــه تـلـلـي کافله

خـــپـــــل د ورور په تیغ مړکیږو
دپـــــردیـــــو څــــه ګـــیـلـه ده

زمـــوږ وجـــود کې رحـــم نسته
قـتـل کــــــړي مــــو ډیـــوه ده

ښـــــونځـی مــــودی سیځلی
هـــم رنـګ بــــدي مـــدرسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنـیـکـونـــو نـومـو نوم  بدکړ
اخ تـــیـــاره مــــومـیـلـمنـه ده

قـلـمـونـه مــــوبـــــد اېسي
خـــــــوښـــه کړې مو وسله ده

دبـــــریا وو څـخـه تـښـتـو
لــویـــه مـاتـې زمـــوږ مـلـه ده

بـس دی ژونـدبه نورشروع کړو
دانـــــــړی واړه ښـایـسـتـه ده

کـتـابـــونـــه بـــه راوخـــلـــو
دکـــتـــاب مــــخ آیـــنـــه ده

عـــلـــم پــــوهـــه به کړو غوره
بــــې عـــلـمـــي پـه اورپـخـــه

پـه یـــوالـــي کـي مـــــوګـتـېـه،
حــمـــیـــدزیـــه زرغــونـــه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سولـه

نورجنګ ګتلي  یوو موږ سوله غواړو
فقر ځپلي يــوو مــوږ سـوله غـواړو

ګلان مووژني هيڅ پرې رحـم نه کړي
اورو سـوځلي يوو مــوږسوله غـواړو

غـوټۍ مـوګل نـه سـوې دجنګ دلاسه
غـمــاز رټـلـي مـــوږ ســـوله غواړو

دکــلــو وژنـــي مـــــو ظالم وګـــړي
تيارو تې وړي يوو مــوږ سوله غـواړو

زمـوږ پـه زړو کي يې نــفـرت شېندلی
ټوپک خـوار کړي يوو موږسوله غواړو

زمــوږ پـه وينو يې مانۍ جــوړې کـړي
غليم ريبلي يــوو مــوږ ســوله غـواړو

دحـمــيــدزي  درقلم  اوښکې څاڅي
جـنـــګ ژړولي يوو موږ سوله غـواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوحشت تغر

دلـتـه دوحـشـت تـغـر
خـوردی هیخ تولیږي نه

ورکه مـو تـرمـنـځ مینه
عـقـل مـوخـپـلـیږي نه

اورمــو پـه مغزوکي دی
بل دی هیخ مرکیږي نه

ویـنـه مـو اوبه غونـدي
مـفـتـه ده ګـرانیږي نـه

ډارمـــو دوجـــوده دی
سترګي مـوخپلیږي نــه

وینه موځبیبنی بنامار
وږی دی مـــړیـــږي نــه

ورک رانـــه قـلـم کتاب
زخـم مو جوړیږي نــه

صـبـره حمیدزیه کـړه
غـم درسه ستنیږي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زموږحال

ورســتــه پاته دنړۍ یــو
دځنځیــرماتې کړۍ یــو

سمندر منــځ کې ډوبیږو
غــورځیدلي دبیړۍ یــو

دیــوبل څخه نـفـرت کړو
دغــمــونــو دپـیـړۍ یو

پــوهه نــکـړوپه اولادمـو
لاغوښتونـکي دمانـۍ یـو

تـاریـخـونــه مــوهېرکـړي
اوس ښاغلي په پګړۍ یو

دښــمــنــان راباندي خاندي
تــوپـان وړي څو وړۍ یـو

دیـــوبـــل څــخــه لــېــري
دګــریــوان څیري تنۍ یـو

حـمـیـدزیه ارزښت مند یـو
حـمـاسـي مستې لنډۍ یـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

مــوږ دګـلـونـــو نـــه ازار اخـيـسـتـی
دبـــدو کـــړونو مـــو بـــازار اخیستی

وخـــت ســـره لـــوبـــې ښه په نره کوو
دخـــپـلـــه ژونـــده مـــو قرار اخیستی

دخـــپـــل هېواد مـــو ورانول عدت دي
دورور پــه ویـــنـــه مـــو تالار  اخیستی

هسک کي سپوږمۍ موپه لیدو شرمیږي
دمـــیـــنـــي لـــیـک مـو د ریبار اخیستی

دژونـــد کـــول مـــو لازده کـړي نه دي
دځـــان وژلـــــو تـــه مـــو دار اخیستی

دخـپـل هـــیـــواد ودانـــو ل نه غواړو
بـــدکوو ژونـــد مـــو دچینار اخیستی

په خـــپـــل کلتور باندي ملنډي وهـــو
ظـالـم اغـیـار زمـــوږ اقرار اخیستی

دجـــنـــګ غوښتنه ښه په زغرده کوو
بد یوو لاســـو کي مـــو انکاراخیستی

دخـــپـــل زړګي دصـــبـــرولـو په پار
حمیدزي سـتـرګـو ښخه کـار اخیستی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زموږحال

نه پو هیږم دژونـدون خوږي تـرخي دي
خــوښـي نسته دلـتـه واړه انـدیښني دي

دچـا ژاړی اولادونــه مــســکــیــنــان دي
دچا ســتــرګــې دفـــراق تکي سرې دي

زمـــوږ هـیـواد کي دکلونو سه جـګړه ده
دښــارو مــنــځ کـي دجـنګ بلي لمبي دي

ظالمان دي دفـرديــو پـه خـــولـه کاندي
دجــابـــر دمــظــلــومــانــو سـه ګیلي دي

رحـــم نـــه لـــري ګلونه يي خــزان کـــړه
دقــاتــل مــالـيـار لاســونــو کي چړي دي

ورور دورور سـره په جنګ دی نه پوهیږي
جـــوړي کـــړي بـــيـــګـــانـوو دسیسي دي

دکـــتـــاب مـــيــنـــه يـې زړکـي زره نسته
زموږ اوښو منځ کي بي شمېره فاصلي دي

کـــه يـــونــه ســـو تـــل تر تله به کـړیږو
حـــمـــيـــدزيـــه پـــه نفاق کي تارکي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادي جوړل غوښتل زما وران كوره
ته رانه ويجاړ كړلي تــوپــان كــوره

ستاساتنه مــوږ باند فـ رض سوې ده
ولې موږ كړې وران زما جانان كوره؟

اې هــيــواده! زه دي پـــوروړی يم
زه دي يم شريک په هر تاوان كـوره
هيوادته
ستا دســيــنــدونو دښكلا ننداره
لكه دښكلي مخ ومــخــتـــه اينه

هيواده تاكي څـــه كـمــی دښكلا
هره لويشت خاور دي دميو پياله

تاكي دكروړو زلمو هــســک اندونه
ستا هرخوا ده په ګلونو ښايسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جانان ته

مـادې دد يـــدن هــيـلــه تل کړي ده
دا هــيـلـــه زړګــي راته ښـــوولـي ده

ستا ســه ښـايـستــه په دي نړۍ نسته
ستـا هــر ويـــنـــا درتېــولو ښکلي ده

مـــخ دي دګـــلاب څخه رنګين ښکاري
هــا کــوڅـــه  په تابانـدي سپيڅلي ده

نـــه منـم غــمــازه  ســتــا خبرې زه
ما دخـــپــل جـانــان ښکلا لوستلي ده

حــســن يې دتېــولــو څــخــه بره دئ
هــســـک ورته لــمـنــــه غـوړ ولي ده

وګــوره سپوږمۍ په منـځ کي درز لري
دې ښـــکــلـــي دګـل ښــکـلا لـيدلي ده

وايـــمـــه ســـلام په ښايسته جـانــان
مــا هـــره خـــبـــره يـې مــنـلـي ده

اې دحـــمــــيـدزي دتـــخــــيـويـال تاله
تـا دخـــپـــل بـــريـــا رســـۍ نيولې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلام دربانــدي وايــم
خــبــروکې دې ستايــم
دګل ســـره پـخـلايــم
مـــــدام زه پـه ژړايــم
ته لـــمـــر يې راختلی
وګـــــړو يـې مـنـلــی

قــربــان دي سم جانانه
پـه ما ګــران يې دځـانه
ته دوست دپاک سبحانه
پــريــمــان يې دښکلانه
درب يـــې نـــــازولـــی
وګـــــړو يـې مـنـلــی

(c) ketabton.com: The Digital Library



''''''''

دځان عـــــزت لـــپاره
دلـــوړ هــــمــــت لپاره
دنــــنـــګ غـيــرت لپاره
خـــلــکـوتــه خيررسوم
ځانـــتـــه ثـــواب ګټـــوم

مــيـنـــه درب مې زړه کې
دزلـمـــوغـم مـې وره کې
ځان مې په پوري غره کې
دلــــتـــه ګـلـونـــه کرم
ځــــانـــتـــه ثواب ګټوم

دمـــــدو ســتـــړى ملت
دا خـــــوبــــوړى مـلـت
ډېــــرکـــــړيـدلى ملت
نـــــړئ مــنـلـى مـلـت
ددوى خـــــبـــــرې اورم
ځــــانـــتـــه ثواب ګټوم

زمــا قــلـــم خـــوښيږي
زما غـــنـــم خـــوښيږي
زما شب نـــم خـــوښيږي
بـــس نـيــغه لار خوښوم
ځانــــتـــه ثـــواب ګټوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـلـکـو تـه خـير رسوم
وګــــړو ځــان نـه پلورم
نيکه خـــــبــــره اورم
ځـانـتـه ثـــواب ډېـــروم

چې پښتانه پـري ګران وي
خلک درانــه پرـي ګران وي
کړوړه خواږه پري ګران وي
هانـــيــک وګــړي ستايم
ځان ته ثـــــواب ډېـــروم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظم

چې خــپل ژبې ته خدمت کړي
چې پــوښتنه دمـــلت کـړي
چې د قام په غـــم غمجن وي
ها وګـــــړي بـــــريمـن وي

زما لپاره قــــــدرمـــــنــه
زما ژبه ده شــــتـــمـــنــه
ها وګـــــړي ښـــايســـته دي
دپـــښــتوســره چې مله دي

ليک وايه چې پـه پــښـتوکړي
چې ســـتـــايـــنــه دتېو کړي
په هـــغـــو وګـــړو وياړم
زحـــمـــتـــونه يې تل ستايم

که مـــوږ خپـل په ژبه وياړوو
هـــــره بـــرخه يې تل ستايو
تولې هيلې به مـــو پوره سي
خوشحالي به مــــوميلمه سي

د وخـــــتــــــوســتـړي ژبه
بي غــــورئ خـــــوړلې ژبه
راسئ نـــــور ورته خدمت کړو
دهــــــر تـــوري يې عزت کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل فرهنګ به راژونـــدی کړو
خپل مـــــزل به ګـــړندی کړو
مـــيـــــنـــه مينه به خوره کړو
دهـــســـکـــو به ننـداره کړو

ســـتـــــوري وبه ويـنـــوبره
دنـــــيـــــکـــوبه کـــړو خبره
دابـــــنـــــونـــه به آبادکړو
بـــــنــــد آنــــدونه به آزادکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شعر

دکایناتو په لوستلو لګیا
دخپل ځان خوی په ښه کولو لګیا
دبریا ګانو په موندلو لګیا
دزړه اومغز په زورولو لګیا
هغه شاعرځوان څومره ستړی ښکاري
دخپل ملت دغمه مړی ښکاري

دخپل ټاټوبي په دردونو ژاړي
دخپل هیواد په کړاونو ژړاي
دګران هیواد په سوځیدلو ژاړي
دنفرتو نوپه لیدلو ژاړي
هغه شاعر ځوان غم خوړلی ښکاري
دخپل ملت دغمه مړی ښکاري

دیتیمانو ژړاګاني اوري
دبورو میندو ښیراګاني اوري
دظالمانو خنداګاني اوري
هغه شاعر ځوان لاپیاوړی ښکاری
دخپل ملت دغمه مړی ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



دظـــالـــمـــانـــو دبـــــريـا كيسي دي
دخايانانـــــو د وفا كـــــيـســـي دي
دغـــــلـــــيـــــمـانو دبقا كيسي دي
دپاكــــو خـــلــكــو ناروا كيسي دي
هغه شاعرځوان اوس نيمګړى ښكاري
دخـــــــپـــل ملت دغمه مړى ښكاري

دقلم مــــــيـــــنـــــه يــې دزړووتلې
دپــــوهي ښاركې يې ډيوه مړه كړي
دكـــــتـــــابـــونويې پوښتى سوځلي
دتاريــــــخـــــونويې ښكلا ايستلي
دمـــــلـــــتـــونـــو يې بـــريا ځپلي
دحـــــمـيـــدزي نه يې ځواني خوړلي
هـــــغــــه ښاعرځوان نړيدلى ښكارى
دخــــپــــــل ملت دغمه مړى ښكاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګـلـونو مـــخ جانان راته رایـاد کــړي
زړه مې غلی په کوګل کې تل فریاد کړي

زما جانان واړي نــــړۍ نــه ښایسته دی
غمـــاز ځکه ما حقیر ســـره تضاد کـــړي

نـيـکــي کاندي تل ښيګڼه خـوښـونکی
مــيــنــان يې په خـــبـــرو اعتمادکـــړي
حميدزی دخپل محبوب په ديدن موړکړه
ربـــه زړه مې تل دنــفــس سره جهادکړي

پند

دمـــحـــشـــر عـذاب کړه ياد
په ژونـــــد مـــکـــړه اعتماد
دګـــنـــاهـــو تـــوبګاره ســـه
وکـــړه نــفــس ســره جهاد
لمونځ دي کانده ذکات مخوره
مـــکـــړه ورور ســـــره عناد
خالق ســتــايـــه اذکـار وايه
په داريـــــنـــو بـــه سی ښاد
دروغ فـــريب اوچم سه تښته
خـــپـــل ګل بڼ دي کړه اباد
ظـــلـــم غـــلا زنـــاده بده
ځـــان دبــدو کــــړه آزاد
نـــيـکـي کاند که هوښيار يې
پـــوره ســتـــا به سی مــراد
پـــښـتــانــه څه لومړی و کړي
حـــمـــيـــدزی وای اتـــحـــاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مناجات

دپښتون ګورګی ودان کړې
مورږ دبــــدو په امان کـــړې

رخـــه وباسی زمـوږ زړوسه
اتحاد زمــــوږ نښان کـــړې

مــــومـنـــان دغمـو ليري
دخـــوښیو پــري باران کړې

زمـــوږ بــنـوـنــه ډک دګلو
مینان مــــو په جانان کـړې

پـــوهـــه راکـړې دنـیـکِـیو
کتابــونـــه مو راتــوان کړې

ربه مــــوږ درتــه زاری کـړو
مـــوږ کامله مـومنان کــړې

حــمـيــدزی دبـــدو لـيـري
تل په نيغه لاروان کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

دتــورو وریـځــو مینځ کي
دلـــمـــــر رڼا خامــه سوه

درمـل دســــوي زړونــــو
څنګه بــس دوه جامه سوه

مــوږ خــوبس یؤو جودیوو
چا ویل چي دوه کامه سوه

کــلــــونه رنــــځ مــو وړی
ځـــکــــه ژړا عــامه سوه

دســـتـــورو خــواته درومو
سپوږمۍ مودوه ګامه سوه

حــمـــــیــــدزی وکــړیــدم
بـــنـــده چې زما زامه سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

که ســتــوري نه وي رڼايي به نه وي
علم که نه وي نــيــکمــرغي به نه وي

ډار دکــړاوه که زمــوږ مل وو همیش
خـــبــــره واوره خوشحالي به نه وي

کــه دپــښــتــون ســره تېغري وهي
باور لــــرمــه بــــريــالــي به نه وي

کـــه چا غليم ســــره ملتيا وکـــړله
دها وجــــــود کي خپلواکي به نه وي

خــمـــار يـــم زه دخپل جانان ددیدن
دلته خمار ســــره مـستـي به نه وي

حـــمــيــدزی زړونو ته ورتلل غواړمه
داسي کيدای سي چې ازغي به نه وي
**17/12/1397**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## منجات

ربــه علم پـــوهـــه راکـــړې
مـــوږ دجـهـلـه پـه امان کړې

مـلـــګـــري دکـتــاب غـواړو
لــيــري مـوږ دهره زيان کړې

دعـــزت ژونـــد درسه غواړو
دذلت نـه مــــو پـنـهـان کـړي

مـــيـنـه زمـوږ په ختـه سوي
مـــوږ ملګري دجانان کـــړې

تـــږي تـــــږي يـــوو بادره
رانـه خوښ واړه ساقيان کړې

هيواد زمـوږ کـه نن ويران دئ
زموږ هيواد لوړ په جهان کړې

ګـــنـــهـــګاره يــــمـــــه بادره
حـمـيـدزی پوه په قـرآن کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلوريزه

څــکــه يــوو ستړي موږمستې لټوو
غــمــونــه زغمو موږخوښې لټوو

په سپينو ورځو کې ويده ځکه يوو
شــپــې رڼــوو مــوږ رڼا يې لټوو
15/12/1397

زمــاجــانــانــه ګلـورينه
دخـــوبــانـــو اولــيـنـه
ستا پرلارکه څوک درومي
دخپل ربه سـره يې مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

غـــمـــونه ډېـرمې درحساب دي
غـــمـــګـــيـــن تارونه درباب دي

دلــــــتــــــه وګــړي کـړي ظلمونه
نازک زړګــي واړه کـــــبـــــاب دي

دفرهنګ جرړي مې اغيار راباسي
زمـــوږ وژلــــوتــه بي تـــاب دي

دپوهې زده کړي ته موکله پرېږدي
تــول دښــمـــنـــان مو دکتاب دي

دحـــمـــيـــدزي سره سلګۍ ملګري
اوښــکـــې يې ډېـرې ددرياب دي
—2/11/1397

# څلوريزه

پنډ مـي اوښکي دې راون يم
دغـــمـــونو يو لـوی کان يـم

دبـــريـــا پـه هيله درومـــم
ډاريـــدو نکی دسبحان يـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلوريزه

ګورم هسک ته ستا ښکلاوي پسي موندم
خپل زخـمـي زړه ته دواوي پسي موندم

دې نـــړۍ کي خـوښـــې چيرې وه وګړو
يم تـيـروتــی که خنداوي پسي مـــوندم

## څلوريزه

داوګــــړي به درکـــومــــه ناخبروي
لادرکومه به زموږچم کې محشروي

دګلونو فـــريـــادونه څوک نه اوري
دلته خــور به لاترڅــو دغم ټغر وي

## غزل

دزړه بـــڼ مې دخالق په ثنا ښاد دئ
دبـــديـــو مې هيرکړی هريو ياد دئ

تـــوبـــه کاندم دګلـــونـــو د ازاره
دګلبڼ په ښـــه پاللو کي جـــهـــاد دئ

درنـــو ستورو شمارل مې عدت سوي
په سپوږمی باندي مي کړی اعتماد دئ

دجـــانـــان پـــه يـــادولو مې زړه پايي
دغـــمـــاز سره په زغرده مې تضاد دئ

کـه دګل ستاينه هـــيــره کـــړل وګړو
حـــمـــيـدزيـــه ها ټولـنـه کي فساد دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پند

مرګ موپه وړاندي دئ غافل ولې سو
په بـــدو لارو پــه مـــــزل ولې سو

مــوږ دخــوبــونو په ليدو ژوندي يوو
خـــپــلـــوخوبونو ته اجل ولې سو

د دوږخـــونـــو سه خـــبــرنه لرو
دظــالــمــانـــو ســـره مل ولې سو

دخـــوږ کـــوثــر غاړې ته تلو په لټه
ســـاقي جـــانان ته پــه غزل ولې سو

ســتـوري پـريمان مو خواوشا تاويږي
رڼالــيــدلـو تــه مـــاتـــل ولې ســـو

په ښــکــلاګــانـــو مــو زړګي اوبوو
خـــواکي اغـــزوتـــه لکه ګل ولي سو

حـميـدزی مست دخپل جانان په يادو
مــــوږ تـورو سترګو ته کجل ولې سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

درد مې قـــــرارنه لري
زړمـــې درزارنـــــه لري

دمـــدويـــښ بيـــده يم
رحـــم اغـيـارنـــه لري

بـــيـــلــــه نـفـاقـه څخه
دلـــتـــه څوک کارنه لري

دلــــتـــــه اورنــــه بل دي
اوبـــــه هــــم لارنـه لري

ګلاب مو مړاوي شکاري
بـــلـــبــل چـغـارنه لري

په غـــمـــو شپي تيروو
ښايست مــو ښارنه لري

په رڼــا نـــــه يــوو مين
تـــيـــارې تـلـــوار نه لري

دحــمـــيــــدزي په وينا
هـــيــــواد موهارنه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما شاعري

نــغــوارم بـــربنده شاعــري وکـړم
نــغوارم په لـويه ورځ مختورى سم

زه دالهامــونـــو چاڼ اړيـــن ګـڼـم
ماته مې فـرهنـګ دځان لوړښـکاري

غــــوارمــه نظمونه مې دګـټـې ډک
زما دچـــم وګـــړو ته ډالۍ ورکـړي

زما په شاعري کې فحشا مــه ګـــوره
زما په هر ويوکي کي خــواږه پټ دي

زما ســـره مې غــم دخپل وګـړو دئ
ماســـره دردونه دکــروړ غره په شان

زه مې دتاتــوبـي ســر لــوړي غوارم
پام کـــوه په نـيــکـوکي دې ګټه ده

ســتــا که مـرګی یادوو څه دې وليکل
هـلـــه دي دلـــيـــک ښکلا او چته ده

ځانته دې په لوى لاس شرچي وانخلي
ځانـــتـــه دې بريا ګـوره په لويه ورځ
وپاشه دېـــوې په شان رڼا هــر خوا
هله دې ژونـــدون کي لــويه ګټه ده
ماتـه حـمـيـدزى په ګل مين ښکاري
لاس کي يې نيولي ســره سکروټه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دښــــکــلا په لټه درومـــم.
دوفـــا خــواته روان یـــم؟

دغمجن ژوندون سه تېنتم.
دبـــریـا خـــواته روان یم

دګلــونــو ســره خانــدم
درنـــا خــــواته روان یـــم

مالوستلی مې نـصـیب دئ
دخــنــدا خواته روان یــم

مــیـنــه موندم لیونی یم
دســبـا خـــواته روان یــم

حـــمــیدزی مې دئ ملګری
دعــقــبـا خـواته روان یم
20/3/1398

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مناجات

ســـتـــا درحـــمــت په انتظاريومولا
موږ دې غوښتونکي د انوار يوو مولا

دګناهونو مـــو پـــنــــډونــه پــه شا
څـــه که ملګري دتلوار يـــوو مــولا

زمـــوږ در واړو ګناهــو راتـــيــرسـي
مــــوږ تــل په هيله دبهاريوو مــولا

ستا انعامونه پرموږ دېـــرســوې دي
موږ ستا ودر ته اميد وار يوو مــولا

زموږ تاتـوبـى دغـمـونو خلاص کړې
مــوږ دکلونو څخه خوار يــوو مولا

حــمــيـدزى تــاتــه دعاګانې کــوم
موږ خپلو کړنو سه په ډار يوو مولا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژوندمې

دکــــړاونو په ګاللوو عـــــدت ســــــوی یـمـه
زه د دردنو په زغــمــلــو عـدت ســوی یمه

دنیکو کړنو دکولو هیله مـــنـــدیـــم هـمـیش
دغـــبـــرګو ســتــــر ګوپه تړلو عدت سوی یمه

که مې وجود راته تحفه کې تش غمونه راکړل
دلوی غـــمــــوپـــه هــیرولو عدت سوی یمه

دلوی بــریا یــمـــه په لټه نـړور څه نه غواړمه
اوس د وختونو په ژرتللو عـــدت ســــوی یمه

دپښتنو غمونه هومره دې چې زړونــه چـــوي
زه  حمیدزی په ژړیــدلو عـــدت ســــوی یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مناجات

ربـــــه مــــوږ یـــوو ګناه کار
ســـیـــخ کــــړي موږ په نیغه لار

مــغــفـــرت راتـــه ډالـــۍ کــړي
راســـه خــــوښ کــــړي ښکلی یار

جـــنــــت ځای دی دنــیـــکبخـتـو
مـــوږ نـــیــک بخت کړي یاغفار

موږ یې خوښ ته راسه خوښ سي
تـــل دي وایــــوو اســــتــغـفـار

مــــوږ تـــه عــلــم پوهه راکړي
جـــهـــل اوردی ســــور انـــګـــار

وروروليٰ بانــــدي مـو کروږ کړي
دنــــفـــاقـــــه یـــووبــیــزار

دجــانــــان کــــړي مـــوږ ملګری
دبــــیــــلوالــــي یـــوو په ډار

ثــــنــــا وایـــوو ســتــاخالقه
وه غــــمـــــازتـــه یــوو تلوار

حـــمـــیـــدزي ته سقون ورکړي
دمـــــــــــــدو دیٔ نــاقــــرار

27/11/1397

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جانان ته

مینه ستا بانــدي ژونــدی یمه جانانه
خـپـل په کړو کي کـړندی یمه جانانه

درنه زار مې سه هر هرڅه چې زه لرمه
خــزانونو کي ســـپـرلی یـمـه جانانه

تا زموږژوند ته خوښي واړه ډالی کړي
تاتـــه واړه ســپـیـلـنـــی یمـه جانانه

په ګـلـونـو مې ستانــوم رنګینه کړی
څـــکـــه ژونـد کي بریالی یمه جانانه

دغـمــاز مـنـافـقـت راته څرګند دئ
دغـمــاز مــخـتــه مرګی یمه جانان

اووه هسکونه دې لـیـدلي دې دلـبـره
ستا قربان سم ستا مریی یمه جانانه

ته د تـــولـو ښکلوښکلی یې ګلرنکه
حـمــیــدزی درتـه لوګی یمه جانانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جانان ته

ماتــه دنــړۍ يې ځــخــه ښکلی يی
لـمـــره په درايـــنــوکي ښاغلی يــی

ستــا دښـــکــلا زه ځنگه صفت وکـړم
ته خــوپاک الله خـپــلــه ستايلی يې

ستا پــر لار تـــــک دنيکبختانـــوچـــار
اې جــانـــانــه ته ځومره سپيځلی يی

مــيـــنــه دې زمـاپـه زړه کي ميشته ده
گله تـــــه زما ځــــانـــتـــــه منلی يـی

هسک دې درناوي ته دی اوچــــت ولاړ
ســـــتـــورو تــــه رنـا يې نازولـــی يی

ســـتــــا ديـــدن کـــول دبرياليو چار
خوار حميدزي خپل زړه کي ساتلی يی
***********

ســـتــاد ديــــدن يمه په هيله ليلا
زړه کي مي ستا ده مينه مينه ليلا

ستا پر تور مخ چي رڼا گاني وينم
زړه کي وچــــــه سؤلـه وينه ليلا

زما جانان دلــتـــه سجده کړي ده
ځکه ته هــومـــره يې حسينه ليلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پند

دستـورو په محفل کي تاريکيوته ځای نسته
دژونـــد په ګـړنګونوکي مستيوته ځای نسته

وجـــود څخه مې تــوله تقوا تللي ده زاهده
په زړه کې مې دويـــري وسلګيوته ځای نسته

په چم کي مې دجهل دروازي پرانيستي پاتي
ناصحه زموږجونګړه کې ښاديو ته ځای نسته

دګلو دښــمــــنــــــي مې دمـدو څخه په غاړه ،
دبڼ په کنارو کي مې غـــوټيوتـه ځـای نسته

يوالی زمــــوږ په چـــم کي دکـفر علامه ده
زموږ ظالمو زړونـــو کې خپلويو ته ځای نسته

دميـنـــې راته مه وايه نـفـرت باندي مين يوو
بي بختـه يو هيواد کي موسپرليو ته ځای نسته

کـــتـــاب سوځو لاسو کي موتيري توري نيولي
په دې وېــــران هيواد کي ابادیو ته ځای نسته

دپـــوهــې سره رخه مووجودکې اخښل سوي
دپـــوهــې سـمـندر کي موسياليوته ځای نسته
خپل وروړسره خفه يوو دښمن دښمن يې بولو
نـور نسته زموږ په ژوندکې ناکیوته ځای نسته
دقــام په غـــم لړلی غـمـجـن حميدزی وايي
وګـــړو دې نــړۍ کي خــوشيو ته ځای نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

دپــښــتــون غـاړه نفاق کلکه نیولي
بي علمي يې په پـښـو کي جاروتلي

دخپل ورور سره کینه کوو لګیایوو
ځکه مـور مو په هرکور کي ژړیدلي

دغلجي اودوراني په نــــوم بیلیږو
دلته ځکه داتیاره ده غـــــوړیـدلي

دتاریخ رنـګین ځــــپــــرکي کله لولو
په نــــړۍ مــــو ده میرانه ځلیدلي

دنیکونوپه نــومـــو لا ویاړیـــــږو
رقیبانو مو دکـــوره تــوره ده وړي

راسئ یو سو دقلم سره خپلوي کړو
حــمــیــدزیه نـړۍ پوهې ده ګټلي
5/2/1398

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اختار

زما دقام دښــمـنــه واوره!
زمـــوږ خــاوره غیرتي ده!

زمـــوږ زړونـــه کاڼي کاڼي
دغــه ســيـــمــه جنتي ده

خــپــل پــه خاورې قربانيږو
زمـــوږ مــيـنـــه فولادي ده

زموږ دتوري تاريخ روڼ دی!
زموږ قلم ســره دوستي ده!

زموږ په زړونـــو کي اورونه
په وجود کي مـــومستې ده

داچې اوس موږخواروزاريو
خـــوره دلــتـه بې علمي ده

که قامــونــه مويوځای سول
پــه نـــړۍ مـــو پاچاهي ده

حــمــيدزی دخپل هيواديم
زما هيـواد سره دوستي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلوته خــنــدا مې پرخوله نه راځي
دښـتودفـراق ته تـوپـان وړی یــم

زړه مې ددلبر په مینه مست شان ته
هـسـک تهد مې آندو دجانان وړی یم

ســتــورو سه رڼا مې وجـود وغواړي
تـــورو ماښامونو ته ځان وړی یـــم
ځلوریزه

ســتورو کي رڼا چې کله ورکـه سي
بیلګه دبې علمه انـــســان هغه شـان

لوی ورځ حســاب ته منتظر انسان
سولې ستا راتلوته افغان هغه شان

پند
رڼاګانـــو ته دســتــورو لږ خو تم سه
په تیارو کې دمـــا ښام هم ډېر رازونـه

دګــلابـــو وږمې هـــرخوا ته نڅا کړي
داغـــزو په تـيــرڅــوکــو پروازونه
لـــمــر شغلي کانـــدي زموږ وجود لپاره
دســـپـــوږمـی لارکې ستړي دې مزلونـه
آندیم وړی خپل وجود ته ځنګه جوړ دئ
خــیـال مې لـیـري لاړسي وکړي وزرونـه
دې نـــړی کي په هـــر لـــوري ازموینه
حـــمـــیــدزیه دلـتــه هرخوادې رمزونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

مه کــوئ جنګونه مې په چم کې نور
دلـــتـــــه دويـــرنو هيـڅ کمی نسته

راوړي قلمونه خــپـــل جـــونګړو ته
زمــوږ خوارو جونګړو کې غمـی نسته

مـــکـــوئ نــفـــرت دخپلو ورنــو سه
نـــســتـــه زما په قام کې بدسړی نسته

وکـــرئ ګـــلـــونـــه مـــو بڼونو کې
آره ځـخـــه دلـــتـــه هيــڅ اغزی نسته

مـــه کـوئ ظلمونه خــپـل وجود باندي
ظـلـــم چـارکي هيڅکله بـــــری نسته

اور مـــړکـــړي هيواد نه مـــو زما قامه
غم سه خلاص هيواد کي مو سړی نسته

ښــکــلـــي ســـئ دښــکــلـو درناوی کوئ
ښــکـــلـــو انساناـــوته مـــرګی نسته

بـــدو تــــه کـــه ښــه يې کـلـــه وويل
پـــوه سئ حميدزي ســـره زړګی نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــړۍ چاپېر کړه ټوله ډکه درنګونـو
هــــرخوايې ښايسته دپه ګـلـونــو
دلته بدمه کړه هوښيا اوسه انسانه
ښکلاګانـي دي هرلورته دسيندونــو
دپښتون خاوره بـــډايــه دغـروره
هرلويشت يې پيمانه دغـــيــرتونو
8/6/1398

دې نــــړۍ ته ته ډېوه يې
دښـــيــګـــڼــو مجموعه يې

دهـــر لـــوري ځليدونکيه
تـــکـــه سپيـنـه آينه يــې

په آسمان کې ځلاندستورى
دخـــالـــق لــويه تحفه يې

ستا ليدلو کې خــوښي ده
دبــــريـــاو خـــزانـه يـــې

ستا دسترګـــو رڼـــا اوري
د ګـــلــــونــــو دکـالـه يې

مـــيـنـــان دي بخـتـور دي
ټــولو ښکلونه ښايسته يې
حمـــيدزى دې صدقه سم
زما لپاره خـــو هرڅه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلوريزه

زنکدن باندي مې پورته غيوار هيواد دئ
ويـــجـــاړ سوی هر برخه کې فساد دئ

غـلـيـمـانـــو ورته کړي يوه صلاح ده
دمــــدو څـــخـــه دراوسه لا بــربـاد دئ

## پند

دنـړی مــخ بدرنګ نه دئ
دلـتـه هرخوا ګړنګ نه دئ

په کـــږو لارو روان يــوو
ملامـت دلـتـه جنګ نه دئ

زمـــوږ سترګې دروغجني
په طـلاوکې زنـــګ نه دئ

دقـــاتـــلـــو تـــورو غږدئ
دمکتب شيرين زنـګ نه دئ

دلـــتـــه وينې تويي ســوي
دګــــلابــو سور رنګ نه دئ

ولې ډار دقـــبـــره وکـــړو
قــبـــر هــرچاته تنګ نه دئ

حــــمـــــيـــدزيـه لاره لنډه
آسمان دومره هم دنګ نه دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زماخاوره

دې خاورو کې ده مینه زموږ زړوکې نفرت دی
باران دتیږو وکړي وارن کړی مومملت دئ

دګلو قدر نکړو ښکلا مو خوښه نه ده
خماریوو دسرو وینو خرڅ کړی موجنت دئ

ورانی کوو په زغرده خپل کلي په اورسوځو
په خپل منځ کې جنګیږو ژوندون مودذلت دی

ماشوم ته په تیغونو وژل دانسان ښي یوو
پري علم پوهه نکړو میشت دلته جهلت دئ

اې قامه ولې وژنې داستا دمور بچي دي
ستا زړه کې وینه نسته که ختم محبت دئ

یوالي ته جرګه سئ لربرسریوځای کړئ
د ورنو په یوالي کي درهرڅه برکت دئ

خپل غرونه به آبادکړو ګلان به پکښي کښیږدو
زما زړه کي حمیدزیه دګل سره الفت دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

اورو دمـــرغــانـو شور
دلــتـــــه ښکلا ګانـي دي

نسته زړه کې مینه زموږ
کـــروړ دي لـکه کاڼي دي

مـوږ لیوني ســـوي یوو
سـترګي مـــو نـادني دي

بـــد وړو کتابـونـو ســـه
ویـنــېـ مـــو ارزانـي دي

نه غــــواړو بـریا لـویـــه
مـستې مـوسـاګانـي دي

بــــنـــدیوو تــروږمیوکي
لاري مــوویـرانــــي دي

خدایه خوشحالي راکړي
دلــــتـــه ژړاګـــانـــي دي

زړه دحـــمـــیـــدزي ښخه
ســـري ویني روانـــي دي
19/6/1398

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

مرګه هیروم ځانته خوشحالۍ اخلم
ژونــد تیروم ستر ګوته سلګۍ اخلم

نه کـــوم ګناه نور تـــري تـوبه کوم
ځـان ښــادوم نیکوته ځـــولۍ اخلم

خیال مې درآسمانه پوري پورته وړم
زړونه پلورم یون ته مـې څپلۍ اخلم

هــرسمته خپلویو ته دامـــونـــه ږدم
مینه کـــرم ښکلوته سپـوږمـۍ اخلم

لار کي حـمـــیـــدزي سره تېپي وایـم
زړه صـــبــروم ســتـــرګو ته پټۍ اخلم

څلوریزه

سترګې مې بینا په هغه دم سولي
کله چې اې ښکلیه زما صنم سولي

عقل مې کـــروړ ستا په خبرو سو
ته زما زخـــمـــونـوته ملهم سولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د وجود دغه پيچلی جوړښت
پاس دآســـمـانه اوريدلی اوربنت
دعـــقـــل مـــزي داتړلی جـوړښت
خــالــقــه ستا دذات ستاينه کـوي
هـــــــره زره دي يادونه کـــــوي

ډالۍ دي راکړ زما ديـــن سپيڅلی
هغه جانان چې انس وجنس منلی
دنـــــړۍ هــر لـورته يې نورختلی
زړمې خالقه تــــل مــــنـــنه کوي
هـــــره زره دې يــــادونـــه کـوي

دګلومـــنـــــځ کې داغـــزو کورونه
داوبـــو لانــــدي بل داسـره اورونه
ســـمندر مـــنـــځ کې دکبـانو زړونه
دالوتـــونکو مـــست چـتـــک وزونه
باداره ســـتـــا حـــکمت بنودنه کوي
هـــره زره دي يـــادونـــه کـــــوي

دخـــاورو جـوړ د آدام ذادو وجـــود
دځــمـکـــي مخ باندي روان هرسرود
واړه تشيال کې اوسيدونکی موجود
دلـــمـــر دوړانـــــکـــــو داروښانــه عمود
خـــالـــقـــه ســـتـــا دذات ستاينه کوي
هـــــــره زره دي يادونــــــه کــــوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما چم

ساز او ســــــرودونه هيڅ
زما چــم کې مــزه نه کړي

بـــدکـــــوي بــد کارخلک
بـدوســـــه تـوبــه نـه کړي

ورک دي په تياره کې دوی
زړه کې انـــدېښنه نه کړي

درومـــي دتــيـــارو لــورته
ژونـد ځـخـه ګيله نـه کړي

سوځي کــــتـــابونه خپل
غـــم دآيــــنـــده نه کړي

ګــلـــــو ته تـــل بــدوايي
بـدو ته غـــوســـه نه کړي

زړه دحــمـــيـدزي غمګين
ښــکــلــوتــه کاته نه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جانان ته

ستا دسترګوشغلې هرخواته خورې دي
دنـــړۍ په هــره بــرخـه کې ډېوې دي

دمــيـنـــو زړونـــه تـاپسي خوږمن دي
ستا دحسن پـه هرسمت کي ننداري دي

زړونه ســتــا دلـــيـــدو وږي دي دلبـره
ستا دمينې څــومره سوځندې لمبې دي

درومې ستا خـواته زما ناچيز خيالونه
تـــخـــيــول سـرمې ملې انـدېښنې دي

دنـــړۍ دټــولـــو ښـکـلـو څخه ښکليه
سـتــا يادوکي د خوږو شاتـو چينې دي

حــمـيـدزی دې صـــدقــه سه اې دلبره
تا پاشلي زمــوږ په لارو کې شــغـلې دي
14/7/1398

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوډ

مرګ مي دی قبول که مې جانان هیرکړئ
زړه مي رانه واخله که مې ځان هیر کړئ

بـد یــمــه بــادره زه اقــرار کــوم
عشق د دونیاګی کي مې میزان هیر کړئ

زما په حال افـسـوس دئ تـیروتلی یم
خـیـال کې درناو مې تـوپـان هیرکـړئ

اوره سـتـا لـمـبې مې سوځوای نسي
ما دحـؤسـونـو هـر داستـان هیرکړئ

غـوارمـه خـوښـی هـرلورته ووینم
هـیـرمې کئ دبـدو مې آرمان هیرکړئ

شـاوخـوا هـر لـورتـه دآندزیرمې دي
فـکـر کایـنـاتـوکي انـسـان هـیر کړئ

زړونه دګـلـونـو ځـخـه کـرکه کړي
ولې دسـپـرلـیـو موکارون هیرکړئ

خوب کوو ارمان موپه خـوب نه خیږي
ویښ یـوو دخـوبونو مو تاوان هیرکړئ

وایـه حـمـیـدزیـه راتـه ووایـه
چا دجـنـګ وبـشلو کې افغان هیرکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درد

خلک ځان ته ګټه کـــړي سوځي موهیوادپه اور
نـــلـــرو پـــټـــکی په سـر غـــواړو درقیبه پـور

چـــم مـو ویران کړی دئ غـــرونه موسوځلي دي
ظلم کـــړو په ځان باندي پلورو خپل دزړه ټـکور

وخت رانه تـیـرسـوی دئ پاته یوو کاروان څخه
مـخـتـــه مـو ازغي شنه دي نسته يې دکښلو زور

زما دقـــام په حال بانـــدي شین آسمان ژړاکـوي
بل دئ دجـــهـنـــم پشان نه مـــري لګیدونکی اور

دلته دسرو وینو خــــوړ زمـــوږ دویـــنـودک بهاند
مست یـوو دورور غوښي خورو دادی دغمازو تور

جنګ ته خوشحالي کاندو موږ يې تیرایستلي چا
درومو دبـــدی دښـــت کي نـــســـتـــه دنیکیو کـور

مـرګ مو رارواېولي هـــرځـــای کي قتلیږو مـــوږ
وړانګي دکـــتاب نســـتـــه ځـغلـو دتیاروپه لور

دلـــتـــه اتـفـــاق نـــســـتـــه غم دحمیدزي مل دئ
بـــدګني پـلار زوی دلته نسته یؤ رښـتـنـی ورور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جانان ته

دسترګو په شغلوکي ژوندون ګوروم
د رڼـــوســتــورو چموکي ګــډون ګـورم

ژونـد مې ستا لپاره وړاندې ځي روان دی
دخــوښــيــو په شــېـبو کي ترون ګورم

دجـنـت او د دوږخ پـــروا مې يی نسته
دخالق په صـــفـــتـــو کي سـکـون ګورم

دبــــر يا لـــوري ته ځـغـلـم رڼا مـوندم
په تيارو دتـــورو شـپـو کي سمون ګورم

زه لــګـــيـــا يـم خپل آنـدونه چيرې پيايم
دبـــدبــخــتــو په کڅو کي بيلتون ګورم

حـــمــيـدزيه دژوندون سره مې جنګ دی
د وګــــړو په څـــيــــرو کي جنـون ګورم

## څلوريزه

ووايـــه دونيا درتـــه نور څه درکړل
غــم اوژړاګانې دې په برخه سـوي

څله دي ازار مظلوم وګـــړي کـــړل
آيا خوشحاليانې دې په برخه سوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نړۍ

دښـــکـــلا ډکـــــــه ده بـلا دا نـــــــړۍ
هـــر سـمـــت يي خوند لري جدا دنــړۍ

که دي زړه وغـــوښـتـل خوندونه واخله
ډېــــره ښـــکـــلا لـــري رښتيا دا دنـــړۍ

مـــنـــمـــه دلـــــتـــــه ازمـــوينه ده بس
بـــس سـپـيـــنـــه پانــه دعقبا ده نـــړۍ

که دي نيکي کـــول خــوښـــې به وينې
واوره بـېـــخــــي ده بـــي وفـــا دا نـــړۍ

دبــــدو لــيـــره اوســـــه ښـــه کـــوه تل
که بـــدي نـــه غـــواړي رښـا ده نـــړۍ

بدو کي ژونــد که درته ښـه ښکاره ســو
هـــــر شــېـبــــه يـې ده ســــزا دنـــــړۍ

دپوهي شتون کي ژوندون غوره دی ډېر
نـــاپـــو هـــو خـلـــکو تـــه بـلا ده نـــړۍ

که دي خــوښـــې غوښتي نـړيو کي بس
دخـــالـق يـــاد کـــوه بـــريــا ده نـــړۍ

درد دهـــيـــواد مي په ارام نه پريـږدي
ما حــمـــيـــدزي تـــه ده ژړا دا نــــــړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مناجات

درڅـخـه څنګه شـکـر وکـړم ربـه
ماتـه دي ډېـرې خوشحالۍ راکړي

دروغ وجـود یـمـه خـاوند خالقه
هـر لــهـزه کي دي ښـادۍ راکړي

سجده کوای سم بیله عذره خدایه
دهـریـو لـوري دي ډالـۍ راکـړي

زما عـاجـز څـخـه راضي سی مولا
ما تــه خـوښـۍ دي دنـړۍ راکړي

## غزل

سـتـا هــره خبره کي بریا نغښتي
سـتـا پـه یاد ژړا کي هم خندا نغښتي

مـرګ دي یاد هیڅکله ورکوای نه سي
قـبـر کي سـتـانـوم سره رڼا نغښتي

جـام دپـاک څـښـاک دهـغـه چـا روزی
زړه کي چي یې هـر خوا تقوا نغښتي

دلـتـه که کړو لارو کي زر پــــټ دي
پای دبـــدو لارو کي ســـــزا نغښتي

مــکــوه دعـــلـــم بـــدي مه وایي
عـــلــم کي دهــر مرض دوا نغښتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان دي دګـلـونو په وږمو موړ کړه
ګـلـو تــه کـتـلـو کـي وفا نغښتي

ما تــه دنيکۍ کــولـو تـوان راکـړه
زړه دحــمــيـدزي کي دادعـا نغښتي
دنړۍ هره زره
ستــا په لار تللوکي ستړيا نه وينـم
دخـپـلــه ژونــده هيڅ سزا نه وينم

که څـوک دښکلي ژوند خبرې وکړي
ستا ياد بـغيـر پکښي ښکلا نه وينم

که وايې ستا خوښې ارمان دی زما
عـجـبــه داده وای ژړا نــه ويــنـم

ښــه دئ انسان دآيني نـه دئ جــوړ
دلـــتـــه ښيـګـڼـه بې ريا نـه وينم

دنــړۍ هــره زره يــاد کــوي ســتــا
په ځــيـنــو ژبــو کي رفا نه وينم

خـــوبـــونـــه دلـــتـــه ارامي نه لري
بـې ګـتـې کـړنـو کي بقا نـه وينم

دګل په نـوم چي ژبه ښکلي نه کړي
هغه مجلس کي هيڅ ښکلا نه وينم

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هوساینه دژونـد وغواړي څوک
نـړۍ کي هيڅ انسان هوسا نه وينم

د ارمـانـونـو يې پـنـدونـه په شا
دحمـيدزي خوله کي خندا نه وينم

زموږحال

دخـپـل مـنـزل ليد مو همدلته وکړ
وينئ موږ څومره وو ربنتيا سه ليري

مـيـنـه مـومـنځ کي د درواغو وتل
درکـومـه هـده وو تـقـوا سـه ليري

راتـه ثابته سـول زمـوږ هـره کـړنه
مـوږ وو دخـپل ژوند دبـقا سه ليري

ويـنـه مـو مفـت وه وژل مو ارزان
ظـالـمـان ولـې وه ژړا سـه لـيـري

دخـپـلـو کـړونـو پـه شمـار مکلف
ربـنـتـيـا مـوږ واړ وو حـيأ سه ليري

لـږ دي دا واړه کـړو نــه پـه مـوږ
لـيـر وو مـوږ وو درنـا سـه لـيري

زمـوږ غـرور درهسکو غرونو وو لوړ
مـوږ وو دعـجـز دکـلا سه ليري

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـــوږ پـــه مـنــځ کي درغجن يوالی
پــه ربښـــتـيـا موږ وو دهرچا سه ليري

که خپل خالق ته په سجده سوه واړه
هـلــه بـــه مـــوږ يـــو دبلا سه ليري

انـــســان دژونـــد پـــه مـانا وپو هيدئ
څـــومـــره وو تللي دبـــريـا ســـه ليري

اې حميدزيه کـــه کړه وړه موسم سي
مـــوږ بـــه خوندي يـــوو دسـزا ليري

## سوله

ســـولـــه دشـاتـــو پيالـه
ســـولـــه تيـاروتـه ډيـوه

ســـولـــه خمار مـاتـــوي
ســـوله درهـرڅه خـوږه

دسولې ژوند ښکلی وي
سوله رونږ سيد اوويالـه

ســـولـــه بـــريـــا راولـــي
ســـولـــه دګـــلـــو باغـچه

ســـوله دژونـــد رنـګـيـنې
ســـولـــه دغـــم ده دمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـولـه غـز ل دجانان
سـولـه دژوند سرمايه

په سـولـې موږ ميـنان
دسوله مـو خوښه دزړه

حميدزی خوښ ځکه يم
سـولـه دژونـــد پيلامه

زموږهيواد
هيواد زمـوږ دسوي سكورپه شان دئ
دلــتــه كلونو ښخه جـنــګ روان دئ

زمــوږ بــنـونه ټول زخمي زخمي دي
دمـــودو دلـــتـــه دغــمـــو باران دئ

نه راسه ورک ســو نه زموږسه ستړی
اولـوتی زموږ منځ كي داور توپان دئ

دمـــودو تـــږي يـــوو دسولې دغږ
دخــوښــی نه دئ دخپګان دوران دئ

زمـوږ په زړو كي زمــوږ هيلي وژنــي
دهـيـوادپـالو دقـتـلـو خـزان دئ

دورنــو مــنــځ كي نفــرتون شيندي
اغيار ظالم زمـــوږ پــه سر روان دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویـنـــه مـوپلوري پري ملکونه اخلي
زمـــوږ رګـــونـو کـي دزرو کـان دئ

زمـــوږ تــاریـــخ ته یې درواغ وویل
ښــکـلـی تاتوبی مو دخپلو وران دئ

کله پـوهــیـږي عـقل نه لري دوئ
زموږ په ځینو اوس انسان بدنام دئ

چي موهر ښکلی په کتاب ښکلی وي
دحـمـیـدزي همـدغـه یو ارمان دئ

دښکلوښکلی
دښـکـلـو ښـکـلی ښایسته جانانه
دتـولـو خـلـکـوځخه ښه جانانه
پاس آسمانـونـو تـه میلمه جانانه
زما وجـو درتـه لـوګی سـه ګله
په تـورتـمـونو کي ډیوه جانانه

درو دونـه وایـمــه په تاهمیشه
هـیـڅ نـــه لرم زه دژونـده ګیله
ځـنـګـه آدا کړمه دژوند شکرانه
چي ربه راکړی یې بس ته جانانه
دښـکـلـو ښکلی ښایسته جانانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه کې ستا څومره ده لویه بریا
نړۍ ښایسته ده ستا په نوراوجلوا
تاتــه درکــړی دی قــرآن پاک مولا
دپــاکــو زړنو یې هــرڅـه جانانه
دښــکــلــوښکلی ښایسته جانانه

دســـیــده لارې یـې ښوونـکی نبي
درب قــانـــو پــلــی کوونـکی نبي
دعــالــمــیـــانـــو لارښوونکی نبي
دخـــوشـــالــیـو یـــې آینه جانان
دښــکلــو ښکل،ی ښایسته جانانه

کــه ســتـــا په لار زه مـزل وکړمه
کــه دشـېبو دقیق شمـېرل وکړمه
حـمـیـدزی حق لورتـه کتل وکړمه
هـلـه بـه یـمـه ستا میلمه جانانه
دښــکــلــوښکلی ښایسته جانانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستــادمينې سمندرکي يم خوشحاله
زړه مې مـسـت دی دلتې يمه بيزاره
دخوبونو تعبيرونه مې رښتيتا سول
سـتــا يادو راتـــه راوښــودلــه لاره

موږګنهګاريوو

موږ ګناهګاريو چي هيواد مووران سو
دهـســـک څـــکـــه دغـمــو باران سو

زموږ په زړونو کي حـسد ميشت سوي
زمـوږ ښارونـــو کي کـتــاب ارزان ســو

ديــتـــيـــمــانـــو مــو ازار اخيستی
ښــکــلــو ګلونــو ته موځان تاوان سو

پــه کـــړو لارو دبـــريـــا هــيــله کــړو
په لارو ورک څـــکـــه زموږ کاروان سو

مـــوږ قاتــلان يـــوو د معصومو هيلو
دګلاب ژوند ته زموږشتون سترزيان سو

زمـــوږ وايـــه د دروغـجـنــو په شان
راڅـخــه لـيــري څـکــه سترجهان سو

دمـؤمــنــانو يـــــو دويــنـــو خــمــار
بـــديـــو خــپــه راڅخه خپل جانان سو

که د بـــريـــا لـــورتـــه ورتلل غــواړو نو
راسئ چي ټينګ پـه خپل خوږه ايمان سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو کورو ته به خوښی راولو
راسئ راتول توله په سپین قرآن سو
که حمیدزیه نیغه لار لټوو
دستر کتاب سربه سم روان سو

رنګونه

دژوند ښکلي رنګونه
زموږ سترګوکي بدرنګ دي

بنیونه مو وران کړي
ګلونو زموږسه تنګ دي

چینار مو دئ سوځلی
خرڅ کړي مولونګ دي

کتاب مونه خوښیږي
کورنه موهم ړنګ دي
ناصح په تیږو ولو
غوږنو کي موسنګ دي
یوالي څخه تښتو
وهلي وارو بنګ دي
راځي تاتوبی جوړ کړو
قامونه موپه جنګ دي

راپورته به قلم کړو
زموږ توري تل په شرنګ دي

بیده یی حمیدزیه
غوږونو کي دي زنګ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پند

بــنــده هله خــوښې مومــې
چې ســتــاینــه دبادر کــړي

کور ښایسته یې وي جوړ کړي
چې تلوار په هــرنیک کار کړي

هله بــــد پــریــږدي بــدکاره
چې سلام دخــپل دلدار کړي

مــئیــن نه دي دروغــجــن دي
چې کــارونـــه داغـــیــار کړي

دهــغــو به څــــه ګــیــله وي
کــتــابــونـه چې په دارکـــړي

وخت ناڅون دی تلوار کانـدي
مـــوږ تــه خاوري انتظارکړي

ګــتــه اخلــه دشــېبې ســه
ســتــا ملــګري دي شمارکړي

دهــســک لــور ته کاتــه مکړه
تا به ولې وخــــت ازار کــړي
دقــلــم په نوک کې شات دي
دچا عــقــل که څــه کار کړي
حــمــیــدزیــه بخت هغه دی
چې دي سترګې لید دیار کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زړه ولې خــپــه يي ته
ماته پــه غــوســه يي ته

وخـت درځخـه تېښته کړي
کلک په شان دغره يي ته

رحــم په خپل ځان وکړه
بــنــد پــه بند اره يي ته

کــورتــه دي رڼــا يوسه
هــره خــوا تـياره يې ته

واخــلــه دغــمــازه غــچ
ولي يــې پــه پــلــه يې ته

مات کړه هربدرنګ احساس
ښکلی يې درهرڅه يې زړه

مــه پــريــږده خپګان دلته
مــيــنــه يې جلــوه يې ته

ورکــړه حــميدزي ته لاس
مست جام يې پيله يې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پند

دانــــــــــېرۍ واړه زنــــــــدان دئ
خـــلاصـــــون دلـتــه حق اسلام دئ

مـــــيــــنـــــه وكــــــړه دګـــلــونـــو
عـــشـــق بـــــريا ده عشق الـهام دئ

كــــــتـــــابـــونـــــو كي الماس دي
كـــــتــــــابــــــونـــــو كـي ارام دئ

له عــذابـــه كـــي بــــيـــريــــــږي
په توند لمر كي مست مست جام دئ

خـــاوره وګـــــــوره عـاجــز ســـه
عـــــــاجـــــزۍ كې لـــوی مقام دئ

بــــــد اخــلاق دځـــان ســوځل دي
داخــــــــلاقـــــو ژونــــــد انعام دئ

دخـــــوبــــــونــــو تـعـيبر سم كړه
ســتـــاپـــه ژبـــه لـــوی كـــلام دئ

حـــــمــــيـــدزی لاريې تـه پــام كــړم
خــــور هـــــرلــــور دابليس دام دئ

## زما هیواد

دکلونو ښخه خورا دئ زما هیواد
دچا وړی یې ازار دئ زما هیواد

زرغونه غرونه یې شنه لکه لوی هسک سول
په اورونو کې ایثاردئ زما هیواد

دبنو ښخه یې تور لوګي جیګیږي
په سل وارو سو په دار زما هیواد

ودانی یې په بمونو نړیدلي
درهرچا دئ خوار او زار زما هیواد

دبچویې اندمونه دې پرې سوي
د وختو دئ ناقرار زما هیواد

زړه یې ډک داولادو دجسدو سو
دمرګونو دئ بېزار زما هیواد

پرمختګ یې زغمای نسي شیطان زاده
د ډبرو دئ انګار زما هیواد

دښکلا ښخه یې ډکه هره خواده
داغیار سترګو کې خار زما هیواد

زموږ مینه یې رښتیا لیدلي نه ده
کنه اوس به واي ګلزار زما هیواد



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نامـــه دخـپــل ټاټـوبي عاشقان يوو
چاپـيــرلی پــه اغـيــاردئ زما هـيــواد

دګـلـونــو تــخــم هرخوا شيندل غواړي
دبـلـبـلـو دئ مـــــــزار زمـا هــيــواد

دګــلاب وجــود سه وينې راڅاڅيږي
زخـمــي ســوی پـــه تـلـوار زما هيواد

که دځان ګـټــه هيواد ته موږډالی کړو
دســــروزرو به ســي هار زما هــيــواد

دهــيــواد لپاره خپل وجود کړه سترې
ســتــا وکارتــــه انـتـظار زمـــا هيواد

حـميدزی يې زره خاور باندي وياړکـړم
پـه الــمــاســو دئ ســيـنــګار زما هيواد

دجانان ياد
دزړه ويـــنـــې مــــې ديارد غمه ابشي
دفـــراق لمبې يې غــوښني راته وريشي

آنـــدامـــونـــه مې لړزانده دي خماريم
دکـــوثـــر اوبــه يې ي ياد کي راته ابسي

ستا ويـــوو بانـــدي زما وجود قـربان سه
ســتـــا کـلام کـي ډک ښونه راته بـــريښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخـــالـــق د نــعــمــتــونـــو شـــکـــر وایم
پیل په غین وي په توبه باندي تول ري سي

حــمــیـــدزیه دانـــــړی بلي ته هــیـخ ده
دغــه خاورې مــوخــوښی راســه رانيسي

**دهیواد ستاینه**

زما دهیـواد تیږي خو سره زرښکاري
څـــومره ښکلی دغه پوري غرښکاري

دلـــتــه په هــیـــواد باندي مین لږدي
بیا یې هـــــم دمیني لـــږ اثـــر ښکاري

مـــــوږ دمــحـبت تمثیل زده کړی دئ
عشـق دخپل ټاټوبي کي خطر ښکاري

وګـــوره فـــرهــنـګ مولیلام سوی دئ
ډېـــرو پــښـــتــنــو کي لږ هنر ښکاري

تــــوري مـو پوښونو څخه کښلي دي
ورنــــو په وژلـــو کي اشـــــر ښکـار ي

زړوکي مـــونـــفـــرت سره ویشلی دی
دلـــتــه حـمیـدزیــه جوړ محشر ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زموږ حال

خنـدا باندي پوهيږو نه ژړاوي زموږملي دي
چـمـونه موخراب دي سزاوي زموږملي دي

هـيـواد مــو لوليه دئ کـورونه موسوځلي
دجــهـل په لار درومــو بلاوي زموږ ملې دي


کتاب څخه نفرت کړو قلم مودئ مات کـړی
دجنګ لمبو کې پـټ يوو رڼاوي زموږملې دي

د ورونږو وينه پـلـــورو بازار دظلم ګــــرم
غـمــاز يوو تيرايستلي ګناه وي زموږملي دي

انصاف په دار ځــړيــږي قاصي سـزا ورکړي
هــيــواده ستا دتيږو بڼيرا وي زمـوږ ملې دي

تــــنـــکي ګــلــونـــه وايه خبريې حميدزيه
ســاقــي مــوماتې سـوي وفاوي زموږملې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**